http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com




Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

# د خاطر دیوان

مصری خان خاطر اپریدے

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



# تړون

د خېبر درې
د شاعرانه غېږې
په
نوم

د خاطر رنګين غزل ته حېرانېږم
په دې خم خېبر کښې څۀ دی چې لۀ خاورو



# فهرست

شمېر — مخ

(أ)

۱ : چې عاشق د معشوقې په لور کاتۀ کا ____ ۱۴

۲ : چې اشنا ئې ستمګر شي نو به څۀ کا ____ ۱۵

۳ : زړۀ مې کړې هر وخت د ردونه اشنا ____ ۱۶

(د)

۴ : کافي برقي دي ديار د محمدؐ ____ ۱۷

(ل)

۵ : خېبر نو که درته ما وکړل تا راوکړل ____ ۱۸

(م)

۶ : د استاد حسن تماشې واخستم ____ ۱۹

۷ : دوا يه شم تا ته قربان څۀ وکړم ____ ۲۰

۸ : باغ د مينې دې د خيال پکښې غنچې کړم ____ ۲۱

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



مخ

۹ : زه نګه د مرم په شان دیدار ته اړبه کېږم ———— ۲۲
۱۰ : شرمسره چې نه یم په څرانه پسې نهیرېږم ———— ۲۳
۱۱ : ستا په الفت کښې به هر بنیاد نه شم ———— ۲۴
۱۲ : واخلمه تا او که دنیا واخلم ———— ۲۵
۱۳ : خوشحالي ستا شره زه ځې نه اخلم ———— ۲۶
۱۴ : نګه کلي چې په ازغو کښې وینم ———— ۲۷
۱۵ : په دې دنیا کښې هسې شېبې تېرومه ———— ۲۸
۱۶ : اشنا که تا ته په کتو پره شوم ———— ۲۹
۱۷ : قسمته واسې دې ودهٔ کړم چې بیدار نه شوم ———— ۳۰
۱۸ : نور به نږدې نه ځان لیرې چې خفه وایم ———— ۳۱
۱۹ : ته به کړې هسې بنګلې نه به مړ یم ———— ۳۲
۲۰ : ځنګلي مرغه دې د مرغم په شان اوربه یم ———— ۳۳
۲۱ : رنګ ته چې ګوره سره سکروټه یم ———— ۳۴
۲۲ : سپرلیه ! زه دې په غنچو کښې نه یم ———— ۳۵
۲۳ : یاره ! ستا مینې په اور سېځلې یم ———— ۳۶
۲۴ : ستا د منزل په منزلونو کښې یم ———— ۳۷

( و )

۲۵ : ژوندي کله نه سا په دې ئې له خاوره ———— ۳۸
۲۶ : څوړه به زه نه پرهه به سره ستړګو ———— ۳۹
۲۷ : نن به خفه یو سپي نما په تیرو سترګو ———— ۴۰

مخ

۲۸ : بیا دې سپینې نه ګړم په هغو سترګو ———— ۴۱
۲۹ : ما د وصال په شپه کښې ټوله شپه سحر لیدلو ———— ۴۲
۳۰ : شوق چې ستا له وهد پېغو سره لاړلو ———— ۴۳
۳۱ : یاد شرمه د عشق ډګې نګر نو په سر ورنو ———— ۴۴
۳۲ : غر به سر په پټ دا په په نهه ذره ذره یو ———— ۴۵
۳۲ب : څنګه چې تن په سوزیږو تېر کړو ———— ۴۶
۳۲ج : بند شوله د په چې انکار دې وکړو ———— ۴۷

( ه )

۳۳ : خبر نه وم دې ثواب او دې عذاب ته ———— ۴۸
۳۴ : زه یمه هجران د دنیا ستړګو ته ———— ۴۹
۳۵ : ته چې رقیب ته اشارې کړې دا مل نخښه ده ———— ۵۰
۳۶ : خوارده تراخه شر د خو د هسې نامه پاتې ده ———— ۵۱
۳۷ : بېګا ستا په انتظار چې هسې ستړې ټوله شپه کړه ———— ۵۲
۳۸ : له د نقاب لرې کړه دل زده کړه ———— ۵۳
۳۹ : ما په شرګېږ تا په خوږ تېره کړه ———— ۵۴
۴۰ : رقیبه په خسپ راغلې راشنا خېرې کړه ———— ۵۵
۴۱ : یاد شرابونه نشې ورباسه ———— ۵۶
۴۲ : د سحر باده دا ارمان یرسه ———— ۵۷
۴۳ : نګه کلي د مرسپد و ډکه شه ———— ۵۸
۴۴ : ستا له سپینه مخه ځار زما زړګې شه ———— ۵۹
۴۵ : د هجران په شپه دي په لاس کښې راغله ———— ۶۰
۴۶ : ترخو ته چې نږه کیږي کله کله ———— ۶۱

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



مخ
۴۷ : ستا د ښکلي مخ شمعه چې مې شرله ———— ۶۲
۴۸ : بیا به سره کړو دوه اوس څراغ ده دوېمه درومه ———— ۶۳
۴۹ : شکر دے چې زه هم د ښېرې شرمند ———— ۶۴
۵۰ : کله چې به فکر کښې د ستا یمه ———— ۶۵
۵۱ : د لارې خاوره شوم د ښېښې دتلې یمه ———— ۶۶
۵۲ : تو به څنګه تېرېږي کا په هوښیار باندې وختونه ———— ۶۷
۵۳ : ما په مثال لکه پتنګ وګڼه ———— ۶۸
۵۴ : د ستا د خلې چې فیصله ماته شي ———— ۶۹
۵۵ : نور نصر به خربره کښې دا فسون مه راکړه ———— ۷۰
۵۶ : ته خو وایه زه به څه کړم، زړګیه لېونیه ! ———— ۷۱

ډ

۵۷ : ځیګر چې شو کباب په لمبو اور د لګېدو ———— ۷۲
۵۸ : لوے دریاب د مینې نه شي په دا پړه نږه ———— ۷۳

ی

۵۹ : داسې بله شپه به په نصیب سره راشي ———— ۷۴
۶۰ : عکس د ستا زما د سترګو له څنډو وځي ———— ۷۵

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



۶۱ : د ستا سترګې چې کړي څپې د زړه نه وځي ———— ۷۶
۶۲ : زړګیه ! تا دې چې درد و نه څه دی ———— ۷۷
۶۳ : چې پښېمان نه شې په یا کښې څه دی ———— ۷۸
۶۴ : کله د ستا خندې په در شپې دی ———— ۷۹
۶۵ : د ستا په غم کښې خوشحالي پټې دی ———— ۸۰
۶۶ : زما چې دا مدام د خند د لبرته سترګې دی ———— ۸۱
۶۷ : څه خو ماته هسې بله دنیا ښکاري ———— ۸۲

۶۸ : زړه چې کله هر څو رانه هر څه غواړي ———— ۸۳
۶۹ : زما زړه او د ستا سترګې سره جوړېږي ———— ۸۴
۷۰ : ما نګه څه به چې زړه د چېرې خو دردونه دی تېرېږي ———— ۸۵
۷۱ : څه چې پرېږي پښه د ما دیار سره جوړېږي ———— ۸۶
۷۲ : د وخت د ګذار د وښې ما غېږه نه جوړېږي ———— ۸۷
۷۳ : خوږ به ایله څه د لېونتوب نه پاتې کېږي ———— ۸۸
۷۴ : سترګې دې کړه بربنډه چې وختونه راز خطا شي ———— ۹۰
۷۵ : په ارمان د تاداوه شي چې هوښیار شي ———— ۹۱
۷۶ : د دې دنیا نه چې ګلان ورک شي ———— ۹۲
۷۷ : چې چې د بند دے د لېټه په پیمان شي ———— ۹۳
۷۸ : ستا چې خورې زلفې کړ نڅه د تار شي ———— ۹۴
۷۹ : ورانه دې به چې را ورځې چې کاله به شي ———— ۹۵

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



مخ
۸۰ : خزان لاړ شي، بهار راشي ګلان خوشحاله شي ـــــــ ۹۶
۸۱ : راشه په ګوټ کښې د ځګر خبرې نه شي ـــــــ ۹۷
۸۲ : دا ستا په سترګو کښې به څهٔ باقي شي ـــــــ ۹۸

ے

۸۳ : زړهٔ په دا ځه دے چې نا رسے مخ دے ـــــــ ۹۹
۸۴ : څوک چې ستا د ګران مينې طلبګار دے ـــــــ ۱۰۰
۸۵ : خوږ خوږ د مينې په ترخو کښې انتظار دے ـــــــ ۱۰۱
۸۶ : خدايه خوږ مسره چې وفا زما دلبر دے ـــــــ ۱۰۲
۸۷ : ما دې ګمان راته اشنا د ستا په څېر دے ـــــــ ۱۰۳
۸۸ : شاشه چې حسن دې اشنا د سرو لبو نه ډک دے ـــــــ ۱۰۴
۸۹ : تک تور سرے دا ستا سرے ورېل دے ـــــــ ۱۰۵
۹۰ : خوږ مسره ورېږي په زړګي باندې چې غم دے ـــــــ ۱۰۶
۹۱ : ستا په انتظار کښې ماته کال څهٔ دے ـــــــ ۱۰۷
۹۲ : چې نړۍ ستا په تور دے په بل توري پېرند نهٔ دے ـــــــ ۱۰۸
۹۳ : چې لمن نظر چې د بصر باقي دے ـــــــ ۱۰۹
۹۴ : سترګې دې چلې چې وخندا زده کړے ـــــــ ۱۱۰

ي

۹۵ : د ځان سپېڅلا د زړه کښې مسکې وې ماليدې ـــــــ ۱۱۱
۹۶ : اشنا چې ته ليدهٔ تېرې وعدې را يادېدې ـــــــ ۱۱۲
۹۷ : زما د اميد وغ د ځې شپې وغځېدې ـــــــ ۱۱۳
۹۸ : چې ښکلي دې وخندېدې شرمنده شي ـــــــ ۱۱۴



مخ
۹۹ : پوره شوېه په دې چې په کنځل کښې خنګه ښکارې ـــــــ ۱۱۵
۱۰۰ : اے ګله ستا چې وکې له خندا نه سترګې لاړې ـــــــ ۱۱۶
۱۰۱ : کله دې دا زلفې په لاس راغلې اشنا بيا به څهٔ کړې ـــــــ ۱۱۷
۱۰۲ : د پره خوشحالي شه نهٔ ده بيا راته هېرېږي ـــــــ ۱۱۸
۱۰۳ : ته که مجنون غوندې ګرځم په بيابان مړېسې ـــــــ ۱۱۹
۱۰۴ : راشه اے ماه تابان په توره شپه کښې ـــــــ ۱۲۰
۱۰۵ : چې د سترګو دې ښکاره نه زما سترګې ـــــــ ۱۲۱
۱۰۶ : خود د هسې پرې ګورمې شرې زما سترګې ـــــــ ۱۲۲
۱۰۷ : د ستا چې نهٔ وينم دا تورې سترګې ـــــــ ۱۲۳
۱۰۸ : څهٔ وشو چې سترګې چې په تابانه خوږې شوې ـــــــ ۱۲۴
۱۰۹ : چې اشنا دې کړې ايسار پرېږدم ولې ـــــــ ۱۲۵
۱۱۰ : اوښکې نهٔ ګېږي که څو راماتې شوې ـــــــ ۱۲۶
۱۱۱ : ته به په زړهٔ کښې ماته څهٔ راکړې ـــــــ ۱۲۷
۱۱۲ : ته ما ستا ښلې پر په سلو نهٔ لې ـــــــ ۱۲۸
۱۱۳ : هر څوک ګډې د زړهٔ قرار وله راغې ـــــــ ۱۲۹
۱۱۴ : دا مې راته ګورې ته نهٔ چې راته ګورې ـــــــ ۱۳۰

سندرې

له ۱۳۲ نه تر ۱۶۵ پورې

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

چې عاشق د معشوقې په لوږ کاته کا
خوږ لېمه شي کم طاقته په ېواته کا

چې پلو لا مخه لرې کړي رڼا شي
لکه ستر ګه د سبا چې راخاته کا

لږ يې عکس د زړه واخله که دې شک وي
چې دا تور باڼه دې څرنګه ويشته کا

په مئين زړه څنګدن شي چې يار راشي
په هيبت زړه په ګوګل کښې الوته کا

د خاطر په زړګي داغ د بېلتون ګوره
چې د يار په لوږ کاڼه واړه کاته کا

چې اشنا يې ستمګر شي نو به څه کا
چې زخمي شوک په ځيګر شي نو به څه کا

چې ټول عمر يې تېر کېږي په پالنګ وي
څه چې زمکه يې بستر شي نو به څه کا

چې په عمر کښې يې غم ليدلے نه وي
چې د غم سره يې سر شي نو به څه کا

انتظار چې د وصال په ګومه شپه کړو
د بېلتون چې پرې سحر شي نو به څه کا

که ديدن د يار موندے په د بهر شي
چې غماز د چا رهبر شي نو به څه کا

زه خاطر خو همېشه دغسې وايم
چې اشنا يې مرود شي نو به څه کا

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زړه مې کوي هر وخت دردونه آشنا
لږ خو مې واوره فریادونه آشنا

تر څو به ژاړم ستا په مینه کښې زه
ګوره داوښکو مې سیندونه آشنا

اوس دې له غمه خلاصېدے نشم
ما وې په عشق کښې وي خوندونه آشنا

ژن په جبین کښې دې خالونه څر دي
دي په چشمانو مې ګردونه آشنا

که ستا په خیال کښې دے اجل ته قریب
د خاطر شته دي ارمانونه آشنا



کاڼي بوټي دي دیار د محمدؐ
ما منلي په دیدار د محمدؐ

ګبر ننګونه به یې لارې شي په مخکښې
که چا ونیوله لار د محمدؐ

د دُنیا واړه ګلونه به یې هېر شي
که چا ولیده ګلزار د محمدؐ

چې د دې دُنیا ژړا او خندا نه وے
نه وے شمع په مزار د محمدؐ

د یادونو یې وصال ګڼه خاطره
چې قرار وي یې قرار د محمدؐ

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خبر نه کړه در ته ما وکړل تا را وکړل
څو کوم به دې بیا کړه دې سبا را وکړل

هم د غمسې ګلونه وو چې مینه جوړه
غمه وشو پسر لې دې کړه آشنا را وکړل

دنیا را ته ګوري د کتو نه وو تم
چې تا نه مې کتلي دي هر چا را وکړل

په مخه باندې راغلې مخ دې خله پټوه
کړه غم دې را ته جوړ چې دې په شا را وکړل

دستې مې وخندل هم دا مې وه ارمان
تا چې اے رقیبه په خندا را وکړل

یو دم مې زړه نه شو لوهمن ولو خاندګمه
خاطر چې غریو نیولې په ژړا را وکړل

[illegible]



د ستا د حسن تماشې واخستم
تکه لوګې په سر لمبې واخستم

لاس خو مې را نه کړه دې مخ پټوې
ګوري یاران مې د غم شپې واخستم
دا در ته سوال کړم چې سوال نشم کړے
وای خله ته مې ستا اسرې واخستم
سبا مې بیا په زولنو کښې ګوره
نن زړې مې فکر د کوڅې واخستم
سم دې د مخ په سبا پوه نه شومه
کړه دې د زلفو تورې شپې واخستم
کور د نندارون را ته یو پوره ښکاره شو
چې تصور د هغه دیرې واخستم
بس یادوم دې نوري مه تنګوه
چې ته مې صبر نشي غمې واخستم

خاطره ته او دا دنیا دې پوه شه
نه بس د عشق یوې قصې واخستم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ورایه شم تا نه قربان څهٔ وکړم
نور ددې د پاسه په ځان څهٔ وکړم

تهٔ خو به کمځې د زلفو جوړې کړې
زهٔ په دې شلېدلي ګرېوان څهٔ وکړم
تهٔ خو چا ته نهٔ ورځې، خو زهٔ یا غلام
ځ یم ستا په در کښې مهمان، څهٔ وکړم
زهٔ به نور څهٔ نهٔ کړم بس دے سوال کوم
نور خو زما نشته دے توان، څهٔ وکړم
ستا په طمع ځان له پاتې شوے یم
ټول خو رانه لاړل یاران، څهٔ وکړم
پوه دې چې په ځان کړم اوس چې نهٔ پرېږدې
بیا به داسې نهٔ کړم سلطان، څهٔ وکړم
چا به د غم ټک ټوندون اخستے وهٔ
بس خو چې پیدا شوم انسان، څهٔ وکړم

اوس خو زهٔ خاطر په څهٔ پوهېږم نه
تا چې کړمه داسې حېران، څهٔ وکړم



باغ د مینې دې د خیال په کښې غنچې کړم
ستا د مخ په تصور کښې تماشې کړم

بل به نهٔ وي یاره ستا غوندې کښې حُسن
څله اوږد د خپله لاسه درپسې کړم

ستا د مخ کتاب د زړهٔ په سترګو ګورم
په ځان تېرې شپې او بدې راخورې کړم

زهٔ خاطر خو یاره ستا د مخ کتاب ته
یې لهٔ تا نه په خبر کښې ورځې شپې کړم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زۀ لکه د موم پۀ شان دیدار ته اوبۀ کیږم
پرېږده چې او بۀ شم ستا رخسار ته اوبۀ کیږم

چرته شی خوبونه شپې پرې ستوری محفل جوړ کړی
همدا یې مشغولا شی ستا سینګار ته اوبۀ کیږم

زۀ پرې بنۀ پوهیږم ستا لېدل زما اجل دے
بیا یې هم وار نۀ شی ستا یو وار ته اوبۀ کیږم

اوس خاطره ولې خدای پۀ نیوۀ کړم دومره سخته
بیا چې پس لۀ مرګه ستا مزار ته اوبۀ کیږم



ستا پۀ اُلفت کښې به هوښیار نۀ شم
خو چې دعقل نه وزګار نۀ شم

سود یې دعشق پۀ لېونتوب نۀ شی
خو چې رسوا دې پۀ بار بار نۀ شم

یار یې وفا دې ماته هله وائی
چې تر یې لاسه او ماله زار نۀ شم

خو چې پۀ توره خاوره موږ نۀ شم
موږ به دې هرمه پۀ دیدار نۀ شم

کۀ د منصور غوندې پۀ دار شم اشنا
دا ستا لۀ عشق به توبه ګار نۀ شم

خاطره! داسې ګذار عشق را کړلو[1]
چې بل ګذار ته به بېدار نۀ شم

[1] متن کی او دیوان کښې "داکړو" دے، چې مصرع بې وزنه کوي

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



واخلمه تا اوکۀ دنیا واخلم
پۀ خندا خرنګه ژړا واخلم

لرې دې پورته کړه د مخ نه زلفې
لره سودا چې پۀ دنیا واخلم

تۀ چې پۀ سترګو کښې مسکې شوې ګُلې
نۀ دې ددې میني بلا واخلم

تا ته چې ګورم پۀ دوړ نړولو کښې شم
یو قدم مخکښې بل پۀ شا واخلم

مرګ او بېلتون با ته جوړه راغلي
خاطره دا واخلم کۀ دا واخلم



غومره چې نۀ یېږم پۀ ځوانۍ پسې نۀ ژړېږم
خدای نۀ ده نۀ پوهېږم چې ساده شوم کۀ پوهېږم

نۀ اوله تا تګ داسې کله چرته شوی
دعوه خو پوهېږم چې قدم اخلم ودرېږم
تۀ او ستا بنایست چې په ما څنګه څرګند شي
مۀ کوه ایله نن د هر څۀ سره جوړېږم
نۀ یمه خوشاله ستا په غم کښې خفه مۀ شې
خدای یې پخلا مۀ کړه چې لۀ تا مرورېږم
شان یې د کړو نۀ وی خو چې زړۀ یې شي راپورته
تا ته چې نۀ سوال کړم د خپل ځان ځنې شرمېږم
غوښته یې هم دا چې را ته وواې چې درومه
خدای خبر چې بیا دې پۀ پلوۀ در ښکاره کېږم
تۀ کۀ په یو ځل لۀ ما خلاصېږې نو بیا واخله
تۀ به را ته نۀ شې کټ ځۀ له خفه کېږم

څنګه ما خاطر در ته دا وړې چې یې هر کړه
پرېږده چې یې وار په هر ځای کښې در یادېږم

---

میاشتنۍ قند مردان - خصوصي ګڼه ۱۰ رکالئیز نمبر (ص ۹۵)

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

خوشحالي ستا شوه زه يې نه اخلمَ
د ستا غمونه واړه زه اخلمَ

تا يې چې زړه درته ګواه هم نه لرم
اوس به له تا نه خنګه زړه اخلمَ

اول سپرغۍ وم ستا د مينې د اور
اوس په ځان پوره شوم چې لمبه اخلمَ

په ورانه دې خم په ورو ستوګو يم آشنا
زه قدمونه چې واړه اخلمَ

هر سړی ګرد دوئه په خاطر دی دغم
په اسوېلو کښې چې سباله اخلمَ

○

---

له منزله کښې د النظ ملحمنه د دے چې صحيح نه دے .



○

لکه ګلی چې په اغزو کښې وينم
داسې يې زړه ستا په بڼو کښې وينم

رخسار دې وينم تور دو زلفو کښې ستا
لکه رڼا چې په تيارو کښې وينم

ګلفامه څو که لرې اوسې له مـا
زه دې د نم په پلوشو کښې وينم

و ستا ليدل تېر شوے خوب وه آشنا
بيا به دا خوب په کومو شپو کښې وينم

اے د سبا ستړګې باخبره په ورو
تله د آشنا دې په خترکښې وينم

زما خاطر خاطر دې اوده کښې وسو
اوس يې له ګے په اسوېلو کښې وينم

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

په دې دُنیا کښې مستې شپې تېروم
که مېلمه یم دوه ورځې تېروم

په ما زهیر مهٔ شي خوږ مخ ښکاره کړه
په زړهٔ د ستا د مخ لمبې تېروم

خوشحال تهٔ کوه چې غم نهٔ لرې
زهٔ لېونے یم چې تنګسې تېروم

دا زهٔ خاطر ستا د خاطر د پاره
په خپل خاطر د غم چپې تېروم

○



○

اشنا که تا ته په کتو پوره شوم
نو بس په ټولو تماشو پوره شوم

پس خو معلومه شوه چې نهٔ رارسې
ستا د دروغو په وعدو پوره شوم

یا د ساقي د میخوړند نشته دے
یا زهٔ ایله اوس په نشو پوره شوم

سوے به هم د خاطر زړهٔ وی داسې
زهٔ دې د مخ په سرو لمبو پوره شوم

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



قسمته واسې دې ودۀ کړم چې بېدار نۀ شوم
بغېر لۀ تا ستا د غمونو نه وزګار نۀ شوم

پۀ دې دنیا کښې به غېر ستا لۀ نورو نه څۀ نۀ غوښتي
لېږم غوړځوږم خو یو ځل پۀ کښې خمار نۀ شوم

ستا پۀ الفت کښې هغه خوب چې ما لیدلے اشنا
د رقیبانو د جرګو ځنې وېزار نۀ شوم

تۀ چې راکوې زۀ به هغه وخت پۀ طمع ومه
یو ځل هم موړ د ستا د خولې پۀ ښۀ ګفتار نۀ شوم

هغه وعده چې تا پۀ سترګو کښې وه مانه کړې
دا زۀ خاطر دې د وعدې پۀ انتظار نۀ شوم

نور پۀ زړۀ کې نۀ ځائیږی چې څۀ وایم
دا نه بیا مسرورېږی چې څۀ وایم

کۀ څۀ نۀ وایمه هم راپورې کښی
پۀ دې هم راته قهرېږی چې څۀ وایم

د هر چا پۀ لوری ځمه واسې وخت دے
بیا هې وخت کله تېرېږی چې څۀ وایم

کۀ خبره نۀ وی مانه خپه دے خپه دے
بیا خپل حسن نه خبرېږی چې څۀ وایم

ډېره ښه پۀ تا پوهېږمه خاطره
خو بس سترګې ې شرمېږی چې څۀ وایم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ته به کرځې مسې بنګلے زۀ به مړ یم
چې یې اوس وسے لېن لیدلے زۀ به مړ یم
جنازه یې چې له کوره ګړې تـــه دروی
ته به نۀ وې راو تلے زۀ به مړ یم
خدای د پاره په مزار یې چې را درومې
لږ شه ماته پښه نیولے زۀ به مړ یم
زۀ به مړ شمه قرارې مړګے ورک شه
سره خاندی به تول کلے زۀ به مړ یم
وچې ترڅې به په ما وی با ذرغونې
وی مزار به هې مُبتلے زۀ به مړ یم
اے اشناچې دې وطن له ته را درومې
خړ خبېږ خو زړې لیدلے زۀ به مړ یم
خړې خاورې به په ما باندې انبار وی
هر سهے به دروی غلے زۀ به مړ یم

د کاکل په خته بند د مغ کتاب کړه
ما خاطر په خدای سپارلے زۀ به مړ یم



بنګلی مخ ته دې د موم په شان اوبۀ یم
لکه کافے مسې کلک ورته په زړۀ یم

چې په کومه لاره لاړ شې زۀ یې مل یم
لکه ګرد یې مسې خو د په هر یو پلۀ یم

زۀ په کومو سترګو ځان ته بیمار وایم
چې د ستا نوم اخستے شمه نو ښۀ یم

ستا لیدل لکه د خوب لیدل دی یاره
په دې خوب پسې لا مفتې ږدۀ یم

لږ د ځان سره په زړۀ کښې فکر وکړه
زۀ خاطر دې چرې یو ځلې په زړۀ یم

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



کوره چې رنګ مې سوے سکور نۀ يم
طاقت مې نشته ستا د زور نۀ يم

راځه د سترګو نه مې مۀ درېږه
سرې پۀ ژړا دې ځۀ مېخور نۀ يم

دې اسوېلو ته مې تۀ نۀ ګورې ځۀ
سوے پۀ اور يم سوے لور نۀ يم

ستم کوه تۀ منع کړے يې چا
زۀ لا خاطر مرے د ګور نۀ يم



سپېلنيه نۀ دې پۀ غُنچو کښې نۀ يم
عادت پۀ داسې تماشو کښې نۀ يم

کۀ راکوې نو سم شراب را کړه
نۀ دې ساقي هسې اوبو کښې نۀ يم

اے خدايه بس ما خپله ورځ ولېده
د داسې ژوند پۀ تېرېدو کښې نۀ يم

د ستا بانۀ د ستا رخسار پۀ خاطر
بې د ګلونو پۀ ازغو کښې نۀ يم [۱]

تۀ ما خاطر ته هسې ست خو وکړه
چې خفه نۀ شې پۀ در تلو کښې نۀ يم

۱ مثنو ابتدا د ديوان کښې دا بيت د غزل وروستے بيت دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ستا د منزل په منزلونو کښې یم
د دسېدو په امیدونو کښې یم

نه مې دنیا نه مې عقبا ګټېږي
دغې سودا او دا فکرونو کښې یم

د ستا د رخسار به مې هېر نشي اشنا
که د بهار په سره ګلونو کښې یم

زما په زړه کښې خو هم ته یې اشنا
دا نه خاطر که د چا زړونو کښې یم

○



○

یاره ستا مینې په اور سوځېدلے یم
دوږ به نشمه په زړه داغلے یم

خودم قسم چې تر هغې پورې ژوندے یم
دېر دې نه په تش دیدن ساتلے یم

همېشه سر په زنګون په غم کښې ناست یم
یاره تا کله خوشحال لیدلے یم

خوار خاطر والئ چې دا کومه ګناه ده
چې له در دې بېنوا شړلے یم

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ژوندی کله نهٔ ماړهٔ دی بې له[۱] خاورو
نهٔ ماړهٔ دی نهٔ ساړهٔ دی بې له خاورو

چا چې خاورې ځان ګڼلے پهٔ ژوندون دے
هغه چرته کښې ودهٔ دی بې له خاورو

د انسان سره چې غم مل شي نو کلک شي
دېوال کړے چا اوبهٔ دی بې له خاورو[۲]

د خاطر رنګین غزل ته حیران یم
پهٔ دې خره خېږ کښې څهٔ دی بې له خاورو

○

---

۱ مترلم نه او دیوان کښې د (لاڅه) پهٔ ځای ... لیکلے شوې چې صحیح نهٔ دے

۲ مترلم نه او دیوان کښې غلطه مصرعه داسې لیکلې شوې ده :
دېوال کړے چې اوبه دے چا لاڅه خاورو .



○

خوږ به نهٔ ژړېږمه پهٔ سرو سترګو
تېروتمه ستا پهٔ لېونو سترګو

مهٔ توروه تورې بلا سترګې دې
پام چې درته نهٔ شي د سپېرو سترګو

عمر له یې کار وک د ژړا سره
وهٔ چې ګورې چا ته پهٔ معصومو سترګو

بس کړه د خاطر سره ښکلا شه تهٔ
خلق درپسې عزت کړي د نرو سترګو

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نور به څهٔ یوسي زما پهٔ تورو سترګو
زړهٔ دې وړے لا پخوا پهٔ تورو سترګو

کهٔ پروا کړمه څو زهٔ به دې پروا کړم
نور دې څهٔ کوی پروا د تورو سترګو

وهلې سترګې مې د سترګو پهٔ هر لور شي
کړم دې داسې وارخطا پهٔ تورو سترګو

کړې مې سترګې ستا د سترګو قدر دومره
ور به یې نهٔ کړم د دنیا پهٔ تورو سترګو

نهٔ خاطر دې د کجلو سلائی وے
ښکلولے دې اشنا پهٔ تورو سترګو



بیا دې سهی نهٔ کړم په هغو سترګو
یو ځلې هم هغسې په مړو سترګو

نهٔ مې شته په تورو سترګو شک د زړهٔ
بس څو زړهٔ مې غل دے ستا د غلو سترګو
زهٔ یې کړم آشنا لهٔ شوګیرو سره
یو مې پل خوبونه ستا اُودو سترګو
نهٔ یم چې د زړهٔ په سترګو تا وینم
چار نا لیدلې په ړندو سترګو
خپل مې واړه بد راځي په سترګو کښې
ستا د پاره خپل شوم د ړندو سترګو
ستا دې اوږدو وروځو ته حیران یمه
څومره ښکلې ښکارې په دې دو سترګو
خبر دے دا زما سترګې څو بدې شرې
ته څو راته ګورې په دې ښو سترګو

څومره ترېنه وُتې دی حیران یمه
سترګې د خاطر ستا لهٔ مړو سترګو

ریډیو پاکستان پېښور (مسودات)

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ما د وصال په شپه کښې ټوله شپه سحر لیدلو
حال مې د ځان لکه مجنون هسې اوتر لیدلو

دریغه چې شپه وه د وصال خو ترقصته پورې
نه په دیدن نه مې پوهه دم چې مې دلبر لیدلو
بیا د سحر غمونو هله لمبې کړمه زه
سرې ماښام مې نمر اوچت د غره په سر لیدلو[1]
نه یې لا هیڅ په سرو لبانو باندې نه یمه پوه
لا په اسمان مې چې د لمر په ځای قمر لیدلو
په تصور کښې مې د ځان سره کول فکرونه
په هغه شپه چې به غماز جوړې محشر لیدلو
چې مې را یاد کړل هغه تېر د جدائی وختونه
له غمه ډک مې ترهغې پورې اختر لیدلو[2]

خاطره بس کړه د وصال طمع پیدا شوه د یار
وائی رېبار چې مې جانان دې سرعت لیدلو

---

[1] ... او دیوان کښې چې دغه لرې معنی مصرع داسې ده:
د ماښام سره ... نمر مې اوچت ... په سر لیدلو
[2] [illegible]

شوق مې ستا د پېرو پېغورونو سره لاړلو
زور مې شو اوبه د ستمونو سره لاړلو

خوبونه مې اننگې شول د ښو ازغي مې مېر شول
نوره را نه بلبل شو د گلونو سره لاړلو
وېرې مې کړې ټینگې خو اخر مې اوبښکې لاړلې
تاو د محبت د ارمانونو سره لاړلو
سترگې مې نیولې ستا د مینې په کاروان کښې
لاړلو نظر مې د گردونو سره لاړلو
زه ترېنه لوگې شم چې به څه سوي ترې راشي
نوره را نه د یار د دیدنونو سره لاړلو
چرته واسې یار شته لکه زه په انتظار یم
ستورے د سبا هم د فکرونو سره لاړلو
چرته به زما لېونے زړه پرې مشغولېږي
ستا د تورو زلفو زنځیرونو سره لاړلو

څو به دې مهار د عشق نیولے وي خاطره
ژوند د رڼې هسې د وختونو سره لاړلو

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

باد شو مه د عشق د ګړ نګونو په سرونو
پوهېږم د لسرو وطنونو په سرونو

د بخه چې د ستا د اننګو خوله هم نه وي
پرېږدې ته چې ګوره د ګلونو په سرونو
ستړي به زما شي اخر غرقې په ژړا کښې
ګرځي چې کشتۍ د ګرداونو په سرونو
مات په ما نظر کړه چې سپېره ستړګي حق حیران شي
دود چې کړه د لمبه د محلونو په سرونو
هسې هم ایږې یمه د باد سره الوځم
سکور مې شوله نیسي د زخمونو په سرونو
ځان به خاوري نه کړم غم د یاره که شو پرېشي
خاورې دې پرتې وي د تېغونو په سرونو

ښکلې به سر تیټ کړي یاره ستا په تصور کښې
د بې خاطره ستا د غزلونو په سرونو



خو به سره یت دواړه په زړه ذره ذره یو
که دا دې خو ښه نه ده چې هر چا ته دې ښکاره یو

یو دغه ښېلتون دے چې عزت مو په کښې پرېږدے
خو به په کښې وایو چې مدام دې در سره یو

ته زما په سرې شمعې نه ستا په انتظار کښې
هر کله چې وي نو مړه به دواړه په یو شپه یو

نه به کله وایم که دنیا په بله واوړي
ګرځي دې نور خلق مونږ په خپله تماشه یو

یوځ به مې سوګند شي په کښې وده څو د یار
اوس به دواړه څه رقیبه تو دې په اوبه یو

راشه مروره چې مې شک له خاطر وځي
وایو به رښتیا چې دا په څه سره خفه یو

[illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ځکه مې ئن په سوزېدو تېر کړو
چې مې پرون په مسېدو تېر کړو

زما خو ستا منزل مقصد دے اشنا
زړه مې له تېرو مرحلو تېر کړو

دلسوزۍ مه ګڼه تپوس همدمه
زړګی مې عمر په لمبو تېر کړو

زما دا تېر ژوندون زما خو نه وه
ټول مې د ستا په تلو راتلو تېر کړو

پار بیا د چا له تورو زلفو نه ګېرم
یوځلي مرګ راباندې دو تېر کړو

لکه د شمعې بېګا ستا په طمع
ټول انتظار مې په سلګو تېر کړو

زه چې سپېلي ته ورخبر نه یمه
ما د دیدن په رنګینو تېر کړو

ژوندون ده د عشق لمبې ژورې غځه دی
سر مې له واړو ګړنګو تېر کړو

اشنا د ستا د بنګلي مخ په خاطر
ما خپل خاطر په سرو لمبو تېر کړو

نښه شوله وېره چې انکار دې وکړو
زما د واړه عمر کار دې وکړو

خلق چې نښه ولې ګوري ورته
تا چې مخ پټ کړلو ګذار دې وکړو

د زړه زخمونه مې بیا هله شماره
کړه د دې خپلې خندا شمار دې وکړو

زه لا ځغځه نه وایم چې داغ مې په زړه
ته لا خفه یې چې دیدار دې وکړو

خاطره زه له تا نه چا وېږې یم
وار به دې راشي که لږ وار دې وکړو

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خیر نهٔ وم دې ثواب او دې عذاب ته
خو تصویر وم ستا په ورو څو کښې محراب ته

ما وې تل به خوشحالي وي ستا په عشق کښې
اوس مې نهٔ پرېږدي غمونه اشنا خراب ته

ستا د سرو شونډو ارمان خو هسې راشي
کله کله چې نظر وکړم ګلاب ته

یو ذره یې لرې نهٔ کړلو د مخ نه
فکر یوړم د اشنا د مخ نقاب ته

نور یادونه مې په یاد کښې رانه هېر شول
یو دوه نهٔ راځي چې کښېنم حساب ته

وایې زړهٔ به زما هم داسې تک تور وي
چې خاطر وکړم نظر سرې کباب ته



زهٔ یمه حیران د دنیا سترګو ته
ګوره کتے نهٔ شي د چا سترګو ته
ستا د ښکلو سترګو بلا واخلمه
مخ دې کړمه سترګو بلا سترګو ته
راشه اهو چشمه لېونے شومه
سترګې مې صحرا دي د ستا سترګو ته
ستا چې خندنو سترګو ته ګورمه
راځي شي لهٔ واره ژړا سترګو ته
راخو دې پهٔ خپله اشنا کړې دي
ځله مې نهٔ ورل کړې اشنا سترګو ته
ستا خندا بریښنا وه د فلک غورندې
بیا را نغله هغه رڼا سترګو ته
تا جوړ آرا دې د راتلو کړې دي
ښکارې مې رنګینه فضا سترګو ته

نن خو مې خاطره ستا خاطر وکړه
بیا به نهٔ راکوې سبا سترګو ته

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ته چې رقيب ته اشارې کړې دا دمل نښه ده
ته چې دا غلې غلې کورې دا دغل نښه ده

کله يقين کړمه په دا چې مرور يې له ما
ما ته معلومه ستا په سترګو کښې دچل نښه ده

ته چې تېرېږې رانه مدام کوې چې څۀ لټوې؟
زۀ چې دا لاس په سينه ږدم دا ئې اول نښه ده

خاطره تا چې بېګا خوب کښې دے هجران ليدلے
يقين مې دا دے اخري ستا د اجل نښه ده

○



○

خوابۀ ترا خه شي د خوبونو هسې نامه پاتې ده
د بدو شپې دی او د ښو هسې نامه پاتې ده

تۀ رانه هېر يې خدايه هر څۀ په دولت کړمه
د دعاګانو د ښېرو هسې نامه پاتې ده

په سترګو ړاندو او په زړو کښې سره خاندو اشنا
مۀ کړه ګيلې د ښه بدو هسې نامه پاتې ده

په دېره مينه کښې چې زۀ او تۀ پرې نۀ پوهېږو
د هغې ورځو او د شپو هسې نامه پاتې ده

چې په پلو کښې به يې په زړونو باندې اور لګو ؤ
د ستا د هغې اننګو هسې نامه پاتې ده

سبا به وائي چې د خدائ په خاطر راشه لږه
په ما خاطر کښې د ژوندو هسې نامه پاتې ده

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

بېګا ستا په انتظار ې مسې ستړې تروله شپه کړه
خندل راپورې ستورو چې سپوږمۍ مه راته ګیله کړه[۱]

ورته سر په زنګانه وم د وصال تږی ته غلی
ما به کله بنه کړه چې بېلتون راته قصه کړه

شوې په منډه نظر ستړې چې هر ستوری به جلب کړه
چې د ستا په لور به تللو هغه ستوری به مزه کړه

ورسره به یې نږدې وچوی که شپه وچوی د خاطر نه
په ژړا ژړا قدم شو خو وعده یې ستا پوره کړه

○

۱ صحیح مصرع داسې په کار ده : خندېدل راپورې ستوري چې سپوږمۍ ته را ګیله کړه



○

لب د نقاب لرې کېدل زده کړه
زما په لوری سم کتل زده کړه

په جار خندا به رقیبان پوهه شي
پټ په لېمو کښې مسېدل زده کړه

اے زړه چې سم دا وارې ونه څوې
لکه تنهاکه تېرکېدل زده کړه

ته ما خاطر ته نصیحت مه کوه
ناصحه مانه پوهېدل زده کړه

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
(c) ketabton.com: The Digital Library



○

ما په شوګير تا په خوبي تېره کړه
شپه مې سپوږمۍ ته په ګيلو تېره کړه

بېګا رانغلې شمع دو به اشنا
ما ټوله شپه په دربدو تېره کړه

مينه د ستا زما نوې زړه سوزوي
هسې لمبه دې په اېرو تېره کړه

دا ما خاطر ستا له خاطره اشنا
د هجر شپه مې په سلګو تېره کړه

○



○

رقيبه په خبر راغلې د اشنا خبرې کړه
پرېږده نورې نوې بس هم دا خبرې کړه

څو به پټې سترګې زړه د اوښکو ګرځم
ګلفامه راشه راشه دغه بيا خبرې کړه
نورې دا غمژنې د جفا خبرې پرېږده
کله کله يادې د وفا خبرې کړه
سود مې کله کېږي د ساقي په پېمانو
د ټولې ميخانې او د مينا خبرې کړه
نم مې شو د سترګو سپين د اوښکو په سيلاب کښې
بس نور شه راته وايه د خندا خبرې کړه
په خود نه يم تپوس راځني مه کوه دده
اشنا ما ليونی ته د صحرا خبرې کړه

خاطره چې ونه کړې د بل چا د غم سودا
د يار د تورو زلفو د سودا خبرې کړه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



یا د شرابو نه نشې وباسه
یا خو ترېخ زما له خُلې وباسه

یا مې د زړهٔ رازونه مهٔ لټوه
یا دې صحرا ته قافلې وباسه

څهٔ لټوې تنګه دنیا که شوه درته
زر مې د ژوند نه لا ورځې شپې وباسه

د آشنا یاده نور مې مهٔ تنګوه
لهٔ دې سرای نه قافلې وباسه

اور د خاطر د زړهٔ په خونه شو بل
سترګې د سترګو نه یې مرې وباسه



د سحر باده دا ارمان یوسه
یوسه په لوری د جانان یوسه

راشه ارمانه دا ارمان دې لرم
کهٔ ځې خو ما سره د ځان یوسه

چې دې د حُسن چمن ترې نهٔ شی
راشه د اوښکو باران یوسه

ته چې مسکې شوې زما زړهٔ ته ښکلیه
دا د غمونو ړنګ جهان یوسه

خوبه زر راشه د آشنا سره
دومره خو راشه دا چشمان یوسه

لږ د خاطر کړه شمع بدیه خاطر
بهار دې راوله خزان یوسه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



لکه ګلې له مسېدو ډکه شه
بانډه دانېغ کړه له اغزو ډکه شه
چې ستا خوږو زلفو ته نېغه نهٔ شوه
زما ښکلا له زولنو ډکه شه
که یې هر څو درسره فندونه وو
خو زما مینې له پښتو ډکه شه
چې مې ژوندون له رنګینونه ډک شي
بیا په غصه کښې له نشو ډکه شه
بس پښېماني له زړهٔ نه وباسه نن
وېرېږه مه له اشارو ډکه شه
چې تا مې هم ګرېوان ته ځیرې وو
هم ستا کوڅه یې له تهتو ډکه شه
ښه دې زړهٔ تش کړه چې بیا بیانهٔ ووایې
فضا زما له اسوېلو ډکه شه
بدخواه چې لاس په سینه کښېږدي درته
دخپې ځانګې له اغزو ډکه شه
خاطره یار دې په خپېر کښې اوسي
تېوله دره له سپېلنو ډکه شه

ستا له سپېنه مخه زار زما زړګے شه
هم دا ستانه سپېلنے او هم لوګے شه

ستا په ژبه باندې هره ژبه خوند کا
اے اشنا یا اېر بدے یا پښتو دے شه

زهٔ او ته د چا ژړا او خندا څهٔ کړو
زما اوښکې دې باران ته پسرلے شه

اوس د ګل څنې ته لرې شه رقیبه
یا پخپله باندې ګل شه یا ازغے شه

زهٔ خاطر دې نور خاطر کوے نشم
اے رقیبه که پوهېږې نو سړے شه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د هجران په شپه ډیوه په لاس کښې راغله
خدای خبر چې چرته تله په لاس کښې راغله

رقیبان خو دې اوس ټول راله راتېر شي
چې یار راغے نو وصله په لاس کښې راغله

چې مې صبر اُمید دواړه پسې خوړ کړل
چې لهٔ ځانه خبرېده په لاس کښې راغله

چې د سترګو د سرو شونډو او د زلفو
تصور یې یو څېره په لاس کښې راغله

چې په تلو کښې شوه مسکۍ نو بیا به راشي
اے خاطره بس راځه په لاس کښې راغله

ترخه ته مې ژړه کېږي کله کله
په خوږو سپږے مې کېږي کله کله

د دردمندو نظر هغوله په کار دے
چې دلاسه دې ښهٔ کېږي کله کله

چې اشنا دچا نه ورک شي موندٔ نشي
پسې ځان هسې ورکېږي کله کله

ښکاري یار سرور نهٔ دے اے خاطره
په لمبو کښې چې اوسېږي کله کله

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ستا د ښکلي مخ شمع چې مې وه شوله
جلوه په محفل کښې توره شپه شوله

راشه لنډه وا وره د اُلفت قصه
بس دے نوره نه ډکښې چې نه شوله

ډېرې وعدې ښې وې لنډې لنډې
اوس دې هر یو کال راته وعده شوله

تا چې د خاطر خاطر و نهٔ کړلو
ښه شوه ډېره ښه شوه آشنا ښه شوله

○



○

بیا به سره ګورو اوس ځواني ده درومه درومه
شوک کړې دومره غم خو دېواني ده درومه درومه

اوس تهٔ ایله راغلې چې بس وخت د ځنکدن شو
بیا راته ګرانیږې آساني ده درومه درومه

مې یې چې بازار کې د ښایست دے ګرم شوے
هر شے پهٔ کښې خطلے دے ګراني ده درومه درومه

نهٔ او تهٔ خاطره نور پهٔ خندهٔ سره خوابهٔ یې
مینه خو هم دا پښېماني ده درومه درومه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

○

شکر چې نهٔ هم ستا د ښېرې شرمه
اوس دې چې نهٔ ښکلېد کوڅې شرمه

نهٔ به په ځان څهٔ وکړم چې راشې تهٔ
وایه دې پهٔ طمعه کښې ذرې شرمه

دومره درنز دې یم کهٔ څو لرې یم
لرې به شم نور کهٔ درنز دې شرمه

ن خو دې خاطره چې سبا تهٔ وے
پوه دې نهٔ د مکر پهٔ وعدې شرمه

○



○

کله چې پهٔ فکر کښې د ستا شرمه
لاړ شرمه لهٔ ځانه خو بیا راشرمه

تهٔ کهٔ لرې ضد نهٔ خو پښتو لرم
اوس د ر سره څرنګه پخلا شرمه
خیال او تصور ته به سلام وکړم
نهٔ کهٔ د خپل زړهٔ پهٔ تماشا شرمه
تاو چې شي د زړهٔ نه ستا د مخ لمبې
کله چې بستا د زلفو پهٔ سودا شرمه
نورې دې د مینې لارې سمې کړه
خدای خبر چې کوم پلو خطا شرمه
عشقه راسې ځای لره دې راوستم
اوس به نهٔ د ستا نهٔ د دُنیا شرمه
ن دې د پرون وه د راتلو وعده
ن څنګه پهٔ طمع د سبا شرمه

وړې غریو نیولې راکتلې دی
لږه بهٔ خاطر ته پهٔ خندا شرمه

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



دلا ري خاوره شرم د پېښو ځني وتلې يمه
اشنا په تا پسې له تلو ځني وتلې يمه

د آشنا مخه نور مې سر ته ژړوله نه شي
نه خو داور او د اوبو ځني وتلې يمه

په بنه بنېره به دې نه لېږم نازېدمه اشنا
نره مې اوس پوه دې د بنېرو ځني وتلې يمه

تا خو به نور راته خندلې وې چې داغه وش
که په ژړا دي د کوڅو ځني وتلې يمه

دغه داغونه مې دي بس دومره خاطر مې وش
نور د کړلو د ګلو ځني وتلې يمه



تو به ښکته ته ږېږي په هوښيار باندې وختونه
نا پوه هسې ته کړل په قرار باندې وختونه

هېچرې هم سخيان خو د سبا غمونه نه کا
له شومانو نه ته ږېږي په خروار باندې وختونه
دا ته وختونه په بيدو ده له انکار سره چې ته شو
ته راشه نور دې سم کړه په اقرار باندې وختونه
نه دے هسې کرم چې خوک په غم کښې درونه بنکاريږي
په هر چا باندې ته شي په خپل وار باندې وختونه
ګوره د مغرو په نه وکښې نوره سودا نه وک
ته چې شي د بنکليو په بازار باندې وختونه
لکه باد هسې ته ږېږي وخت په روغ او په بيمار
ودر ېږي نه و د ېږي په بيمار باندې وختونه
دمغ دې تصور کرم ښکته مغ مې داسې تور دے
خبر نه يې کړل ته مې په انکار باندې وختونه

ما ښکته به لتهون کړے د دنيا له غم نه خلاص يم
خاطر ما ښکلي ته کړل په خپل يار باندې وختونه

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ما پهٔ مثال لکه پتنګ وګڼه
تهٔ دې د شمعې غونډې رنګ وګڼه

کهٔ مې کوثر شولو نصیب د دیدن
بیا مې شهید د عشق پهٔ ننګ وګڼه

زمکه بستر وی لېمنو ته مُدام
زړګیه تهٔ یې هم پالنګ وګڼه

لکه چې خوږه ستا غمونه دی وېر
پراتهٔ مې تول په زړګی زنګ وګڼه

خاطر کچکول د ګدا واخستلو
اشنا دیدن په ځان قلنګ وګڼه



د ستا د خولې چې فیصله ماته شوه
نوره د زړهٔ مې حوصله ماته شوه

شونډې دې هسې د پېغلې نهٔ وې
په زړهٔ دې بله څهٔ راتله ماته شوه
نور مې ساقي څهٔ جُرم نهٔ دے کړے
تشه لهٔ لاسه مې پیاله ماته شوه
کهٔ پهٔ عوض کښې یې هر څهٔ غواړې تهٔ
دا مې په برخه د سپېده ماته شوه
لاس مې یې واکه چې جاسوسو ته ځې
ماښام خونهٔ دے چې روژه ماته شوه

خاطره پرهېز ده د دروغو توبې
نوره زما او ستا ناغه ماته شوه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

○

نور زهر پهٔ خوږو کښې د افسون مهٔ راکوه
دا بس دے اشنا نور دا زړهٔ چاودون مهٔ راکوه

ته تل کړه ستمونه خو پهٔ خپله اے اشنا
سزا د رقیبانو پهٔ لمسون مهٔ راکوه

چې خو وکړې وعدې نو هومره لا شې پې وعدې
دا دې وی در پاتې خو زبون مهٔ راکوه

که زهٔ چرې پهٔ خود وے نو پهٔ تا شیدا کېدم
پهٔ سترګو ماله یار بیا د جنون مهٔ راکوه

هر څو که زهٔ خاطر د اشنا اجل ته مخ شوم[1]
د کوږ مبارکی خو پهٔ ژوندون مهٔ راکوه

○

[1] دیوان او منزل دواړو کښې مصرع داسې ده: هر څو که زهٔ خاطر د اشنا اجل ته شوم

○

ته خو وایه زهٔ به څهٔ کړم — زړګیه لیونیه
څهٔ به کړم او څهٔ به نهٔ کړم — زړګیه لیونیه

تا خو وې آبادی پرېږده، ما خو پرېښوه دلته څهٔ دی
پهٔ صحرا چې ګرځېدهٔ کړم — زړګیه لیونیه

چې اشنا کړې سترګې پورته باڼهٔ ستا پهٔ لور رادرومي
نهٔ یې کوم طرف کاږهٔ کړم — زړګیه لیونیه

زهٔ خاطر در ته څرګند یم چې پهٔ څهٔ باندې راوین شوې
چې پهٔ څهٔ دې اوس ودهٔ کړم — زړګیه لیونیه

○

[1] منزل او دیوان کښې (ودهٔ کړه) دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ځيګر مې شو کباب په لمبو اور ولګېدهٔ
په ما دے يک تنها کهٔ په هر لور ولګېدهٔ

چې لرې در نزدې شوم د وصال په تمنا
دستا د ګُنګرو کانو په ما شور ولګېدهٔ
ځيګر مې تش ګوګل دے راشه وکړه تماشه
د سوز فرياد ونو تنګ ټکور ولګېدهٔ
زړګيه اُميد لند کړه پس له دې نور له وصاله
بېلتون دې ځواني مرګ شي اوس يې زور ولګېدهٔ
سپين مخ دې رابنکاره کړه د نقاب نکه نن
وربل دې پرې د ورېځو غونډې خور ولګېدهٔ

خاطره خداے خير کهٔ بيا ديدن وکړې ديار [1]
چې بيا د غمازانو داسې زور ولګېدهٔ

اشنا وې دا لړګي دي د خاطر داسې پلو
رقيب وې ما زېګر شي په تور اور ولګېدهٔ

۱ منزل لمنشاعر ديوان خاطر کښې داسې دے : خدائ خاطر خدائ خير که ديدن وکړې ديار
۲ منزل لمنشاعر ديوان خاطر کښې ... شريه د ... معنی بدلېږي او قافيه غلط ده



لوے درياب د مينې نهٔ شي په وارهٔ زړهٔ
شومه ياره بيا د ستا غونډې په نهٔ زړهٔ

چې په خلهٔ کوی يو او په زړهٔ بله
د هغهٔ سره به مينه کړې په خلهٔ زړهٔ

سوی د ننګ تـه مې لې وکوره دلبره
ما نيولے ستا د حسن په لمبه زړهٔ

بېګا ستا په انتظار کښې شمع رويه
د هر ستوري سره پورته مې خاتهٔ زړهٔ

بيا يې خوب واره ټولو نه او هيبت شي
د هجران چغې چې وشي په فُدهٔ زړهٔ

يو غم نهٔ دے چې يې وکړې اے خاطره
ډېر غمونه دي کوه يې په ساړهٔ زړهٔ

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



داسي بله شپه به په نصیب سره راځي
په عمر کښې راځي خو د رقیب سره راځي

خوشحاله وی په غم کښې هم[1] به دا ره شاد مدام
را د روی خوشحاله دې د حبیب سره راځي

شو چې په تندي يې د ازل ليکلي نه وي
دومره زحمتونه د غریب سره راځي

خندیږي او ګډیږي سره ګلونه د سبا
نغمې چې د بهار د عندلیب سره راځي

نور خلق که رغیږي په دارو د طبیبانو
خاطر ته مرضونه د طبیب سره راځي

[1] متن لیکنه او دیوان خاطر کښې لفظ "هم" نشته چې مصرعه یې وزنه او بې معنی کړې
[2] خطر چې ، ترکیب مصرع یې معنی کړې



عکس د ستا زما د سترګو له زنبار نه وځي
د زړه له کوره مې بېلتون په یو ګذار نه وځي

دا ستا کوڅې له زه د روغ ځان په خیال نه درځم
چې تاو راتاو نشي د ستنې سوم نه تار نه وځي

اے شمع دویه راشه نور دغه ضد ونه پرېږده
چې په مېن دې هره شپه د انتظار نه وځي

د ستا د عشق په سمندر کښې مې ټوپونه وهي
چې په ربښتیا خو سمندر وي د انکار نه وځي

شپې د اوښکو د خاطر پسې ایله زیاتې شوې
ښکاري د ستا د ځوانۍ اوبه د شو بهار نه وځي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې کتے در ته لۀ ډېره هجره نۀ شم
د ستا سترګې مې کوڅې د زړۀ نه وځي

خداې دې هغه وخت را نۀ ولي صنمه
چې مې ستا د دیدن شپې د زړۀ نه وځي

کۀ د سترګو نه مې وځي د ستا سترګې
وې وېل کۀ مې جګرې د زړۀ نه وځي

موده پس سره یو ځاې شو پۀ محفل کښې
ستا بانه مې ښ نېزې د زړۀ نه وځي

جمع زړۀ له اشنا چې زۀ د ستا یم
چرته زلفې مې خورې د زړۀ نه وځي

د مخ لرې کړه پلو زۀ دې لوګے یم
چې مې ستا د مخ لمبې د زړۀ نه وځي

ترهغې به دې رقیبه زړګے وچوي
چې خاطر د معشوقې د زړۀ نه وځي



زړګیه تا وې چې دردونه څۀ دی
دا پۀ ګوګل کښې دې تړکونه څۀ دی

زړۀ پۀ ښو مې وله څوک یې وینی
وهه وهه دا سترګکونه څۀ دی

بس خو کۀ مخ دے نو ګلنامه دے ستا
دا د خورشید قمر مخونه څۀ دی

نۀ ده اسانه اشیانه مې د زړۀ
لا د ستم دې تندرونه څۀ دی

د ستا منزل دې دومره لرې شی
ګودر پرندو ته تیندګونه څۀ دی

کۀ مې ذرې کا نور نو لا به ښۀ شی
ستا پۀ فضا لا وسعتونه څۀ دی

چې مرور وی یو ساعت یې ګوره
چې وی پخلا نو بیا ګلونه څۀ دی

چې مرور یې پېښېدے څو نۀ شې
ما ته پۀ غلا غلا دیدنونه څۀ دی

دا پۀ خاطر ګلفامه ستا د شونډو
وی پۀ خاطر دې پرهرونه څۀ دی

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

چې پښېمان نهٔ شې پهٔ بيا کښې څهٔ دی
پرېږده راوګوره پهٔ دا کښې څهٔ دی

زما پهٔ اوښکو کښې خندا ده وستا
يارهٔ د ستا پهٔ دې خندا کښې څهٔ دی

شمعې د نن شپې نه سبا جوړه
سبا به مړه وې په سبا کښې څهٔ دی

زړهٔ مې يې ستړے پهٔ تورو پونو کړلو
ګله دا ستا پهٔ دې ګړوا کښې څهٔ دی

خاطره تهٔ چې ماته نهٔ شې کتے
لږ ده مې پوه کړه چې پهٔ ما کښې څهٔ دی

ګله دستا د خندېدو شپې دی
زما د اوښکو د شېبو شپې دی

پهٔ دا لنډ تنګ وخت کښې مې حال وپوښته
داې د ژوند د تېرېدو شپې دی

پهٔ تا اختر اوس د ځوانۍ راغلے
دا تورې شپې د پسرلو شپې دی

د بخت سپوږمۍ تهٔ به راخېژې ګله
اوس مې د ژوند د محفلو شپې دی

دا زهٔ خاطر درنه تېرېږم کومه
د بېلتانهٔ دې نورې څو شپې دی

خاطر د وينو غرغرې وکړلې
داې د ژوند د ختمېدو شپې دی

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د ستا په غم کښې خوشحالي پټې دي
په دې زندان کښې ازادي پټې دي

زړه که ته غواړې نو لېونے خو نه یم
د مخ سره زلفې رسۍ پټې دي

په خوږو زلفو کښې راګوزې به چل
په دې ځنګل کښې دې هوسۍ پټې دي

په کومو سترګو به بیا بیا درځمه
په اشارو کښې دې تهکې پټې دي

خاندې چې جوړې شول د نړه زخمونه
ایله په وینو کې خوږګي پټې دي

څه شو په خوله چې دې رخصت راکړو
ستا په نظر کښې تسلۍ پټې دي

په سرو سرو ګودم تورو سترګو ته دې
چې په کښې څه بلا مستۍ پټې دي

ستا له سینګاره مې ځوانۍ شه لوګے
ډېرې په خاورو کښې ځوانۍ پټې دي

د ستا په خیال زما خاطر شو ایرې
خو د اُمید په کښې سپرغۍ پټې دي



زما چې دا مدام دغه دلبر ته سترګې دي
نورې نه وینمه سترګې که هر چرته سترګې دي

له هره دره ورو تلې سترګې مې آشنا
که وړې دي که ترې خوږې در ته سترګې دي

نه تل را ته مرسته په دې عمر مه شه جوړه
زما خو هم ګلفامه دې پر هر ته سترګې دي

د مینې سمندره سترګې غرقې مې کړې تا
وتلې مې له تا کله بهر ته سترګې دي

په اوښکو مې کړه ستړه وړه ونه مې د عشق
که ګل یې د مخ راڼې خو ثمر ته سترګې دي

را وه چې خبرې به وړه په وخت سترګه د سبا
زما خو هم ختلې دې سحر ته سترګې دي

خاطره که خوږغاړې نړه له تا د یار دیدن
نه نه شم ورکولے زما نمر ته سترګې دي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نن خو ما ته هسې بله دنیا ښکاري
تا چې نۀ وینم نو بله دنیا ښکاري

تنګ ګوګل یې دنیا شي چې ته یاد شې
بې تا تنګه لا ګوګله دنیا ښکاري

بې لۀ ما نه هسې ګله صحرا ښکاري
بې لۀ تا نه هسې ګله دنیا ښکاري

چې پۀ هجر و وصال نه پۀ کېږي پوهېږم
دا ستا ده کۀ مې خپله دنیا ښکاري

هېڅ خاطر دې خزان ونۀ کړه خاطره
شګه خړه او بې ګله دنیا ښکاري



زړۀ مې کۀ هر څو را نه هر څۀ غواړي
هېڅ نۀ دے خبر چې هر څۀ زړۀ غواړي

اے ماشومه زړۀ ته را نه بنۀ وائې
مخه را نه غواړې چې ما نۀ غواړي
تل به بې پروا وې ګرنګونو نه
څوک چې خپل منزل ته رسېدۀ غواړي
زړۀ او د نظر څخه دې خلاص کړمه
نور دې لا ښایست را څخه څۀ غواړي
هر سړے د ستا د دیدن وږے نۀ دے
را خو هم زړۀ غواړي هم لېمۀ غواړي
خبر نے کۀ ډېر شوم خان ته ګران شومه
بد هم پۀ کېږي وي چې څوک یې بنۀ غواړي

خلق پرې تېر شوي لۀ سرونو نه
څلۀ ورنه خاطر پۀ تشه خولۀ غواړي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زما زړهٔ او د ستا سترګې سره پېښې[1]
نور به بد کا چې پهٔ دې منځ کښې څاڅېږي

کهٔ خبر نهٔ راکوې خبر دے بېخبرې مهٔ کړه
ښئين زړهٔ مې ستا له مينې نهٔ صبرېږي

کهٔ دې غم په ما انبار وي پروا نشته
د کلونو لاندې څانګه نهٔ ماتېږي

چې مې ورتې اشنا وائې خفه شوې؟
زړهٔ مې بندهٔ شي په ګوګل کښې نهٔ ځائېږي

زهٔ خاطر داسې هيبت ستا د راتلو کړم
لکه پاڼه چې پهٔ ونه کښې رپېږي

[1] پوهېږي



ما وې تا به مې زړهٔ وچوې خو دردونه دې تېرېږي
پرېږده څهٔ کړې تپوسونه خو وختونه دې تېرېږي

جوړې تا اراده کړې د راتلو زما پهٔ لوري
نن مې سترګو ته د وړاندې مثالونه دې تېرېږي

جانانه زهٔ مې زغملے شم کهٔ وې د ستا د لاسه
هر څوک کهٔ ستمونه طوفانونه دې تېرېږي

ستا د حسن پهٔ بهار کښې پاره نورې رنګينۍ نشته
ددې دهر[1] پهٔ خاطر باندې غمونه دې تېرېږي

[1] متن لفظ دهر دېوان کښې د الفظ نشته چې مصرع يې بې معنی کړې ده

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څهٔ چې پرې پهٔ ما زما د يار سره جوړېږي
خبر دے زما زړهٔ د انتظار سره جوړېږي

کله پهٔ يو رنګ شي بيا سل ځل پهٔ بل انداز
سل ځلې ديدن د خپل خپل وار سره جوړېږي

وګوره واړهٔ ښکله پهٔ سترګو کښې اقرار کا
بس خو د يار شونډې د انکار سره جوړېږي

څهٔ پهٔ خاطر کېږي نن د ښکليو پهٔ صفت
هغه وخت راغلے دے چې دار سره جوړېږي



د وخت د ګذارونو مې داغونه نهٔ جوړېږي
زما سره سپرليه ستا ګلونه نهٔ جوړېږي

يو ځلې مې وران کړے ستا تصوير راله اشنا
عم مغضي زما هغه فکرونه نهٔ جوړېږي
راضي شه د يار غمه د دُنيا د غم سره
يو کور چې ډګر زړهٔ پهٔ کښې برجونه نهٔ جوړېږي
اے زړهٔ ته راته وائې چې يار راشي څهٔ به کړو
لا څو به څنې وړاندې تعبيرونه نهٔ جوړېږي
زهٔ خو يې اشنا لا د پخوا نه لېونے وم
د عمر لېونو ته زنځيرونه نهٔ جوړېږي
زهٔ تا ته پهٔ قدم کښې او ته ما ته وې ولاړه
زما او ستا پهٔ منځ کښې پېغورونه نهٔ جوړېږي

خاطره يو ورځ نهٔ ده نن زړهٔ جوړ او سبا وران
چې د هر کوې غمونه هغه زړونه نهٔ جوړېږي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

نور به ایله څــهٔ دلبرونه پاتې کیږی
ګوره چې یو ګردچې یې د پښونه پاتې کیږی

زړهٔ مې چې اشنا د ستا د تــلو نه پاتې کیږی
خود به راته غم د خــوشحالو نــه پاتې کیږی

پیغې مې د زړهٔ د لمن ورڅېـدې لاړې
غم دې پهٔ کښې د ړېرشو د نیرو نه پاتې کیږی

نهٔ بلېدهٔ ضي اور د مغ دې. دا مې زړهٔ وهٔ
ګوره چې به سکور د سرو لمبو نه پاتې کیږی

تا چې پهٔ کړو وړو د عشـق بوتلم زړهٔ کیږه
څنګه سې لارې د پــندو نه پــاتې کــیږی



وی به مې ګواه سبا دا سپین سپین دیوالونه
داغــه تور لوګی چې د ډیـوو نه پاتې کــیږی

یاد مې د دنیا لهٔ یاده ځکښې ځکښــې ځي
څنګه به د ســتا د یادېدو نه پاتې کــیږی

بــاده د بېلتون چې مې پهٔ لوږی بیا را نهٔ شي
سترګې مې د یار د تماشو نه پاتې کــیږی

زړهٔ له مې دارو دی او کجل مې د بصــر دی
خاورې یې خــاطره چې د پښــو نه پاتې کیږی ¹

بیا راغلله شپه او ځلند سترګی یار را نغے
بیا به مې خــاطر ئن د خوبو نــه پاتې کــیږی

○

---

¹ د دېوان کښې مصرع دا سې ده: خاورې دې په خاطرې چې د پښو نه پاتې کیږی

[illegible]

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

سترګې دې کړه برېندې چې وختونه وارخطا شي
زلفې کړه پرېشانه چې ګردونه وارخطا شي
خو به کړې وعدې راته د شپې او د سبا
ډېرې شپې وعدې کړه چې خوبونه وارخطا شي
زه درته له داره په محفل کښې کښېنم نه شم
سترګې چې راواړوې نو زړونه وارخطا شي
عقله چې یې وویني زلفې تار په تار
بس خو یو ګرېوان ته یې لاسونه وارخطا شي
دومره اې زړګیه ! ځان ته مه ښکلوه ښکلې
وبه چوې له واره که دردونه وارخطا شي
غله سره د مینې په محفل کښې چې یو ځای شي
زړونه وارخطا شي، چې رنګونه وارخطا شي
مل یې کړه د زړه یې که په خوله نه بیانېږي
داسې ادا وکړه چې دا دونه وارخطا شي
ځکه زه خاطر دې دومره وصف کړم اشنا
پرېږده چې د خلقو درته زړونه وارخطا شي

○

میاشتنۍ «ژوندون» پېښور اکتوبر ١٩٥٩ع

○

په ارمان د نادانۍ شي چې هوښیار شي
خوشحالي او خوب یې ورک شي غم یې کار شي

تخت و تاج او بادشاهي یې په کار نه وي
په ارمان د روغ صورت شي چې بیمار شي

په توبه باندې ډېر بد ښکاري چې زوړ شي
ښکاري ښه چې په ځوانۍ کښې توبه ګار شي

لېوني په کاڼو لګي ورته خاندي
د هوښیارو ځنګدن په یو ګذار شي

خپله غمه د یار غم یې لب مېلمه دے
تا به وکړمه وار وکړه که دې وار شي

ته دې خپلې سترګې وګوره چې څه کا
د خاطر زړګے به څرنګه قرار شي

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

د دې دنيا نه چې ګلان ورک شي
غږ د بلبل به په بوستان ورک شي

دا ته چې ژاړې ستا ژړا هيڅ نه ده
که درياب کښې چې باران ورک شي

هر مړه چې سود په لېونتوب نه کيږي
چې په منګل کښې مې ګريوان ورک شي

څوک به لټوه ستا ورک شوي پلونه
چې د خاطر په کښې چشمان ورک شي

○



○

چې يې روڼ دے د لېمو په پيمانو شي
سو دې کله بيا د لب په بهانو شي

څو چې خداې را کړے نه وي نو به ژاړم
د خېبر فصلونه تل په بارانو شي
که د ستا په نوم بدنام يم پروا نشته
لېوني غونډ نه تل په لېونو شي
نه د ستا لېونو سترګو نه ډار نه کړم
که خوږونه دې د سترګو لېونو شي¹
هغه شپه چې مې د ستا زلفې په لاس وې
دغه شپه د سپېلني د وړاند ښو شي²

چې د زړه ګوټ ته دې نا ښې پروا مه کړه
اے خاطره خاطر تل د ملمنو شي

○

---

¹ که دا د واړه شعرونه متن کښې نشته

² په ديوان خاطر کښې دا مصرعه داسې ده : چې د زړه ګوټ دلبر را غله وې سبزي

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستا چې خوږې زلفې کونځې راتاو شي
زما د زړهٔ غوټې ورسره راتاو شي

پهٔ عمره پوره لوپته کښې تاو شي
لکه وږانه بېړ بوګه را تاو شي

نهٔ به مې بیا کړې لیونے د غرونو
نهٔ به دا ستا سترګې هوسۍ راتاو شي

پهٔ زړ بوږې خوبه وانهٔ وېم لهٔ تا
نهٔ به خاطر ستا لهٔ ځوانه راتاو شي

○

وړاندې به مې دا وې چې کاته به شي
اوس چې پهٔ ژوند پوره شوم وایم څهٔ به شي

وایم ستا بنو ته د زخمي زړهٔ نه
بس دے کهٔ وی داسې نو ساړهٔ به شي

نهٔ وصله دا سې جدایۍ خبر
ما وې پهٔ ساعت کښې تلهٔ راتلهٔ به شي

ورې کړې تپوس چې راځه څهٔ غواړې
ما وې چې کهٔ راشې نو خراب به شي

ستا د حسن شمع او دا شوق زما
نهٔ یې پرېږدی دواړه سره مړهٔ به شي

هر وخت چې ژړا کړې خندا نشته دے
زړهٔ خو د خاطر اوبهٔ اوبهٔ به شي

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خزان لاړ شی بهار راشی ګلان خوشحاله شی
بلبل یې د چمن وی بوراګان خوشحاله شی

ښخو مۀ راکوه مخ دې بل خوا واړوه
پرېږده چې ناپوهه رقیبان خوشحاله شی

شمع چې بلیږی د محفل د پاره خاندی
زړۀ کښې داسې وايي چې عاشقان خوشحاله شی

راکړه جفا کانې، ستمونه کړۀ غمونه وک
زړګے د خاطر وچوه خوږې خان خوشحاله شی



راشه په کوڅو کښې د جرګو خبرې نۀ شی
چرته چې په مونږ کښې د پردو خبرې نۀ شی

وړوړه شپوله راشه چې له یو بل نه خبر شو
یاره په یو شپه د ټولو شپو خبرې نۀ شی

وایمه له څان سره چې دا به ورته وایمه
راچې شی آشنا په حوصلو خبرې نۀ شی

زۀ او ته چې وو ینو له ورایه سره پوې شو
چا وې چې په سترګو کښې د زړو خبرې نۀ شی

یاره ستا د هجر اوږدو شپو شو ګیره کړے یم
ګوره چې مې اوس په اسوېلو خبرې نۀ شی

خدای خبر خاطره زۀ به یا چرته ته به یا چرته
پرېږده اوس په تلو کښې د راتلو خبرې نۀ شی

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

داستا پهٔ سترګو کښې به څهٔ پاتې شي
رقيبه يار کړهٔ ې پهٔ غلهٔ پاتې شي

ستړے مزدور سحر وختي پاڅيږي
پهٔ شوګيرو منين وعدهٔ پاتې شي

يو ځلې نيغ پهٔ دې لار تېرشه اَشنا
چې دې کاږهٔ وارهٔ کاتهٔ پاتې شي

افسوس چې ستا پهٔ خيال کښې څهٔ بنکاريږه
دغه ارمان به ې پهٔ زړهٔ پاتې شي

وستايه ډېر د يار تراخهٔ خاطره
چې پهٔ کتاب کښې دې خوابدهٔ پاتې شي

○



○

زړهٔ پهٔ دې نهٔ دے چې ناولے مخ دے
چې کوم يې خوښ شي هغه ښکلے مخ دے

مخونه ډېر دي خو دا مخ ې خوښ دے
والله يهٔ تهولو کښې وتلے مخ دے

پرېږده چې او ښکې ې بهيږي پهٔ مخ
دا بې ګناه جانان رتهلے مخ دے

څهٔ وشو تاکهٔ ديدن بند کړو پهٔ ما
خاطر پهٔ زړهٔ کښې ستا ساتلے مخ دے

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ښوک چې ستا د ګراني مینې طلبګار دے
هغه کله له غمونو نه وزګار دے

ستا سینګار زما په سترګو کښې غمېزې
چې په کوم لورې زهٔ ګورمه بهار دے
د منصور خو هسې نوم دے په دنیا کښې
که یقین دې شي نو هر عاشق په دار دے
خندوې ، تغیروې چې مې ستا مینه
بس هم دغه مې خزان او هم بهار دے
دا رقیب دې څهٔ په مخکښې مخکښې کیږي
بس د ستا را باندې هر منت ګزار دے

که دې یار له سترګو وتو خاطره
خپل غزل مخې ته ونیسه دا یار دے

---

میاشتنۍ "غنچه" پېښور

---

اګست ۱۹۶۰ ء



خوږ خوږ د مینې په ترخو کښې انتظار دے
ښکلې تماشه په تماشو کښې انتظار دے

ستا لنډو وعدو چې په ما خومره اوږدې کړې دي
ښهٔ دے چې د ژوند په ورځو شپو کښې انتظار دے
مهٔ کړه ضبطه مه چې راله اوښکې ورچې نهٔ کړې
ورېږي دې د چا په دې شپېو کښې انتظار دے
تا چې د وفا پلو په ما باندې ونهٔ نیوهٔ
ما ته څهٔ د هجر په غمو کښې انتظار دے
لاړې د اُمید د زړګي شنې پاڼې مې وچې شوې
بیا دې ته سپرلیه په راتلو کښې انتظار دے
ما وې چې که نن نهٔ وې سباله به دې خوښه شي
وړې مې در ته کړې په اسرو کښې انتظار دے
کله به شي ستا د حُسن شمع راته بله
ګران راته د زلفو په تیارو کښې انتظار دے

ښه ده چې خاطر دې دومره مخ ته لا کتلې وو
ښکلیه ستا دیدن په سرو لمبو کښې انتظار دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


خدایه څومره بې وفا زما دلبر دے
چې لۀ غمه یې زړۀ مرم پۀ دۀ اختر دے

دهجران د لاسه شپه و روز ژړیږم
ځکه داسې یې پۀ اوښکو ګریوان تر دے

یا خو زۀ ورته نظر کولے نۀ شم
یا خو دے وږېږ پۀ لېمو ښې نږدې دے

اوس یې سود پۀ بل بشر د زړګي نۀ شي
چې لیدلے یې د یار ښکلے بشر دے

تور بانړۀ د یار دغشو پۀ مثال دي
چې ویشتلے یې زما د زړګي سر دے

دریغه زۀ خاطر خو یوه پۀ سپل قصور کې
چې پۀ څۀ باندې زما نه مرور دے



ما وې ځان را ته اشنا د ستا پۀ څېر دے
دې وې ورو ورستې به تۀ پوه شې څۀ وای خبر دے

دې وې زړۀ کۀ خېرې ستا زما پۀ زلفو
ما وې ستا هر یو کلپ ورته کاوشېر دے

دې وې زۀ یمه هرسې پۀ مېږو رونه
ما وې زړۀ زما د لوړو غرونو شېر دے

دې وې بیا تۀ مخ ښکاره کړه کۀ پښتون یې
ما وې هر پښتون پخوا لۀ سره تېر دے

ما وې زۀ خاطر دې هر وخت یم پۀ طمع
دې وې راشه دلته کېښه غم یې ډېر دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شاید چې حُسن د اشنا ئې دلبر نه ړک دے
د زړهٔ جهان ئې د لوګو د اسویلو نه ړک دے

خوږمنه ئې ستا په بې هوړ غشو ده ویشتنه د زړهٔ
ګنې وطن خو هسې یاره د ازغو نه ړک دے

د ستا نصیب شه خوشحالي د بې غمۍ خوبونه
زما د خوار غریب نصیب د شوګیرو نه ړک دے

نمر مخې مخ ته ئې لهٔ ورایه ناخبر کتلي
نن را ته ځکه دا جهان د پلوشو نه ړک دے

راشه ګلونه ګواهان دي په صحرا کښې زما
چې تول چمن زما د اوښکو د شبنم نه ړک دے

دا حسرتونه داغمونه تنګ ګوګل زړګیه
لهٔ دې خوګو برنه دے هر خوګهٔ د تیارو نه ړک دے

زړهٔ ئې یوه د لیونتوب په کښې سودا کړله
بازار د حُسن خو لهٔ ډېرو تماشو نه ړک دے

همدمه مهٔ را یادوه دا تېرې هېرې قصې
زما زړګے خو مختنے لا د ګیلو نه ړک دے

زما خاطر ئې لهٔ شکونو لهٔ فکرونو ړک کړو
د مغ کتاب دې را له راوړه د قیصو نه ړک دے



تک تور سورے د ستا سورے وه بل دے
چې دې اوږد د بنګلي مخ تړې لاندې بل دے

چې خو خُم په مخکښې لا منزل زیاتیږي
اشنا ستا د دې منزل ښکته منزل دے

چې ئې شک په ګومه لار دے سوداڼي شوم
نور ئې هیڅ موندلے نهٔ دے خو ستا پل دے

چې اشنا دې په کښې اوسی اے خاطره
خیبر وګڼه حرم که خوشحال دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوږمه وړې په زړګي باندې چې غم دے
د آشنا سود به پرې نه شي وائی کم دے

زه چې مست پرېشان او سرګردان یم
هر یو غم یې لکه زلفې پېچ وخم دے
د هجران د لاسه شب و روز ژړېږم
راشه یو وارې په سترګو مې تور تم دے
هغه خاوره مې دارو ده که چا راوړه
په کوم ځاې باندې یې ایښے چې قدم دے
ټول عالم یې وېړ صفت د سخاوت کا
ګیله څه کړم چې داخپل نصیب مې کم دے
زه خوشحاله مست شومه په خندل یې
خلقه ما او په جانان کښې کوم یو کم دے
چې دلبرې په ژړا پورې نن خاندی
نو مې شوے مې د سترګو کله نم دے

حکیمانو له مه دروه خاطره
د یار شونډې دې پرهر له مرهم دے



ستا په انتظار کښې ماته کال څه دے
دومره لا مانده نه یم ستا خیال څه دے

سوزی هم هغه چې پرې بلیږي اور
خانده لے اشنا تاته ډغال څه دے

تا که په شاله کښې پټه ولیدم
بیا به داسې وائې چې مشال څه دے

زه دې هر یو غم د زړګي داغ کړم
ماته لا د ستا په جبین خال څه دے

ما خو درته وېل د ورېږه مې مه کوه
وګوره خاطره اوس دې حال څه دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې نړه ئې ستا په نور دے په بل نور ئې پېژنو نه د
نظر چې ستا په لور کړم په بل لور ئې پېژنو نه دے

اے مجرو چې ئې ورانه نه کړې دا د زړګی خونه
ارمان په کښې د یار کړمه په کور ئې پېژنو نه دے

دا نه چې هر بنا پست باندې شېدا دے زما زړه
د ستا په مخ دې سوزي خو په اور ئې پېژنو نه دے

په غېر ستا د محفل ځنې ئې نه شي ځه ګذران
در دروی به خاطر خو په پېغور ئې پېژنو نه دے

چې لب نظر ئې د بصر پاتې دے
جو ړې ئې منزل ته ډېر سفر پاتې دے

شپه که اوږده د خوږو زلفو ده خو
وار دې د سپین مخ د سحر پاتې دے
زار دې د مینې د لمبو ځنې زړه
لا ئې په مینه کښې څيګر پاتې دے
تېرې د شپې وکړه که وکړې یقین
ستا انتظار رانه سحر پاتې دے
د انتظار ډېرې چې تته نه شي
اوس خو شپه تېره شوه سحر پاتې دے
ما خو د ستا په سر وطن ګټلو
خبر شه اوس رانه خبر پاتې دے
نه او انکار له تا په کومو ستړګو
لا ئې د تن د پاسه سر پاتې دے

نه د دربار په خوله رخصت شګه شم
د یار خاطره چې خبر پاتې دے

[illegible]

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



سترګو دې چل چې د خندا زده کړے
سترګې زما چل د ژړا زده کړے

په لندو پلونو به یې ښکته خمه
ما خو تل تګ چې د صحرا زده کړے

نن دې ونه وې په وعده کښې راته
هره وعده کښې دې سبا زده کړے

خاطره طمع د وفا مه کړه
اشنا خو یو چل د جفا زده کړے



د خان سپنګار ولو کښې مسکې وې ما لیدې
زما د زړه په سولو کښې مسکې وې ما لیدې

پرون چې څه پرواه ستا په کذاب نه وه صنم
زما په زړه ویشتلو کښې مسکې وې ما لیدې

شاید چې وه د زیاده حیرانتیا مې هغه وخت
اشین ته په کتلو کښې مسکې وې ما لیدې

خفه یمه په دا که ښه یې ستا له سیې کړم
رقیب ته په وئیلو کښې مسکې وې ما لیدې

لبان دې لکه پانې اننګي دې سره ګلونه
سحر چې ته په ګلو کښې مسکې وې ما لیدې

خبرې په غصه کښې کیږي هم د چا خاطره
اشنا چې په کتخلو کښې مسکې وې ما لیدې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

اشنا مې نن لیدهٔ تېرې وعدې را یادېږي
دا وصل کهٔ هجران دهٔ چې ګیلې را یادېږي

بس دهٔ مې ستا ارمان پهٔ زړهٔ کښې نور خدای دې
دا نهٔ چې ماته نورې مرحلې را یادېږي
منم چې فراقجن به نور سبا را یادېږي
لهٔ ما چې اشنا لاړهٔ ماته شپې را یادېږي
کهٔ هر څو شوې، نن یاد له چې هېر دې نشم بنهٔ
پخوا مې لا پهٔ زړهٔ کښې اوسېدې را یادېږي
وم دومره لېونے ستا د پرېشانو زلفو زهٔ
چې چرته خو به خاورې بادېږي را یادېږي
زما د زړګی یادشي د مخکې نظر سره
پهٔ هیڅ نهٔ هېرېدلې هم داسې را یادېږي
دا نهٔ چې اهو چشمه اوس یې غټې سترګې
د ستا خمارې سترګې لا نېږي را یادېږي

بېګا چې شمع ودېد هر څهٔ هېر وهٔ د خاطر
د ستا د محفل ښکلې تماشې را یادېږي

[illegible]



زما د اُمیدونو ورځې شپې وغځېږي
هر څو ستا د منزل کهٔ مرحلې وغځېږي

اوس چېرته تر ېنه لاړ شم لېونے چې کړمه یار
هر ځای کښې یې د زلفو زولنې وغځېږي

نمر مخنیه اوس دې سپې لارې ماته کړه کړه ګې
نظر کهٔ ستا د مخ پرې پلوشې وغځېږي

چا هسې داسې نهي چې خاطر کړو یار ګلاد
پهٔ دې د رقیبانو جنازې وغځېږي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

چي بنکلي وي ، وخندېدي شونډې
خود به د سترګو خوښېدي شونډې

دا ته چي لاړې شونډې صبغ ونه وې
بس کۀ په تا به يادېدې شونډې

سترګو له زۀ کۀ قسمونه ورکړم
زړګيه ته کله پرېږدې شونډې

شول جوابونه د خاطر نه خطا
په کشمکش کښې رېږدي شونډې

○



○

پوه شومه پۀ دې چې پۀ ګنځل کښې ښکلا ښکارې
وخانده يو ګل چې پۀ خندل کښې ښکلا ښکارې

ستا د تصور پۀ يو جونګړه کښې اوسېږمه
ته خو راته وايه پۀ محل کښې ښکلا ښکارې

شومه به پۀ باغ کښې نه پۀ غټو ويې خپل ځان ته
ګله د آشنا پۀ سره منګل کښې ښکلا ښکارې

سترګې يې پۀ ما کښې دي چې ګورمه هرڅا ته
نن راته - اے شمع پۀ محفل کښې ښکلا ښکارې

تا به پۀ آئين کښې ځان ليدلے پۀ يو رنګ وي
راشه د خاطر پۀ هر غزل کښې ښکلا ښکارې

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

اے گله! چې ستا ګوټې د خندا نه سترګې لاړې
نو خود مې لیمې بړبې د ژړا نه سترګې لاړې

نرګیه! پس له دې به یې د ستا په سترګو ګورم
نظرې وړه اشنا، چې لاړ، زمانه سترګې لاړې
هم دا دې بد رنګه شوه مه ګړه پار له راهزنانو
اے گله! د دوستو وړاندې مې له تا نه سترګې لاړې
ما وې چې کړه وړ ګورې نو اوس بیا مخ پټوې
نو ګوزې مې ګریوان ته له حیا نه سترګې لاړې
بلبل ته په کاتۀ شو او په نهونو زلزلې وې
محفل ته چې ته راغلې د هرچا نه سترګې لاړې
لږ راشه شمع رویه! لیمې وګوره چې څۀ شوم
دستا په تماشا کښې مې له ځانه سترګې لاړې

نو څۀ شو که مې د خاطر سترګې په تا نۀ شرې
چې د ږېرې داسې وینې له دنیا نه سترګې لاړې

میاشتنۍ «قند» مردان
(غزل نمبر) جولائي، اګست ۱۹۸۹ع

○

که دې دا زلفې په لاس راغلې اشنا بیا به څۀ کړې
که نۀ عادت له دې بلا سره شم بیا به څۀ کړې

در ته کښې نۀ شم حیران یم د اشنا سینګاره
تا مې چې داسې په اشنا وکړل په ما به څۀ کړې

څو به بسیږې او دا دښمنه تل ته ماته کړې
چې یې پېرزو نۀ وی دعا مخه اشنا به څۀ کړې

چې څۀ یې وکړل مخه یې تول وکړل په تا خاطره
دا یه چې تاله په لاس راشی په اشنا به څۀ کړې

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



بېره خوشحالي بنه نۀ ده بيا رانه هېرېږي
کله کله غم راکوي تل چې يې يار دې بېږي

زۀ دې يم لمکے پېښېدے نۀ شې رانه شمې
خدايږو د دنيا نه پۀ تيارو کښې بنه بنکارېږي

ماته د اشنا د وعدې هېرې ځاې اشنا دے
اے ورېږه نظر ته پۀ هيڅ هم نۀ هېرېږي

ستا به د خاطر نه وي پۀ زړۀ کښې څۀ ترېږي
دومره بې پروا يې چې پۀ مخ کښې يې ترېږي

---

[illegible]



لکه مجنون غوندې ګرځم پۀ بيابان درپسې
وايم پۀ خلۀ ليلې ليلې ځيرې ګرېوان درپسې

نۀ شوم خبر نۀ د وصال لۀ خوشحالي نه چرې
لکه وحشي ګرمه غمونو د هجران درپسې

نۀ دې اشنا يم نۀ چې بيا راته آشنا ووائې
پروا يې نشته دے پۀ تا نۀ ګرم خفګان درپسې

چې ته بيا نۀ وائې پۀ ما چې ته شيدا نۀ يې ته
کۀ د کمرو مې ګذار نۀ کړو خپل ځان درپسې

پۀ حال خبر شه چې نن دې رانۀ شي خواله زما
چرې پۀ لاس ګرځي خاطره رقيبان درپسې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



راشه اے ماهٔ تابان پهٔ توره شپه کښې
یم تر زلفو پرېشان پهٔ توره شپه کښې

لاړ تېکر و بې پروا یم ستا پهٔ عشق کښې
لکه بحر یم روان پهٔ توره شپه کښې

پهٔ خندا مې ستا قسم وی شمع بویه
څو به کړمه دا ګریان پهٔ توره شپه کښې

زهٔ خاطر د ستا د زلفو نه چار نهٔ کړم
ما لیدلی دی ماران پهٔ توره شپه کښې



چې د سترګو دی ښکار زړهٔ زما سترګې
چې یې نهٔ شی کړے پوښتنې زما سترګې

زړهٔ کچکول کړمه د اوښکو پهٔ ځنځیر کښې
چې درګورم شی نمځې زما سترګې

مرګ ژوندون دے لږ راګوره د نرګسه
در نه غواړی جوړ بخښنې زما سترګې

دهرچا دې دیدنونه مبارک شی
وینې ستا د پېرزوینې زما سترګې

پهٔ ژړا باندې خوږ نهٔ شی چې زهٔ ژاړم
ډکې ستا د در لمسنې زما سترګې

ستا د سترګو کړی خاطر چې نهٔ درګوری
هسې نه چې دی پارنې زما سترګې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

خوږ د هرې یوې کوڅې شوې زما سترګې
چې د ستا سترګو ته غلې شوې زما سترګې

ستا منزل ته به د زړهٔ په سترګو رسم
په تلو تلو کښې مرحلې شوې زما سترګې
څهٔ زوخونه پرې دګرمر اوښکو اوړې
په ژړا د غم پېغې شوې زما سترګې
چې سبا بېګا یې ستا په در کښې نیسم
خوږ د هرې یوې ناې شوې زما سترګې
بیا مې هغه خپلې سترګې خپلې نهٔ کړې
چې لهٔ ځانه نه په دې شوې زما سترګې
اوس په دم کښې د یار زر ځل دیدن غواړي
د اول نه دېرې ښې شوې زما سترګې

نهٔ خاطر به په ترخو زړهٔ اوس عادت کړم
چې په تا باندې خوږې شوې زما سترګې

---

میاشتنۍ «غنچه» ستمبر ۱۹۶۰ ع

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

د ستا چې نهٔ وینم دا تورې سترګې
پهٔ کار مې نهٔ دی دا پورې سترګې

نهٔ به یې د بل سترګو ته پورته نهٔ کړم
د ستا پهٔ پل مې دی نسکورې سترګې

ساقي د ستا پیمانه څهٔ کومه
چې داشنا مې دی مېخورې سترګې

خاطره ژاړه لهٔ هجرانه سره
پهٔ تصور کښې خرې کړې سترګې

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څه وشوې ستړګې مې په تا باندې خوږې شولې
چاته پوره نه شوې چې دستا په لور کږې شولې

ګوره داګرېوان مې چې وحشت څنګه تار تار کړلو
نه شلېږي دستا د زلفو څرنګه حلقې شولې

ما خو بېوتېل چې دستا خُله وېره آسانه ده
ګرانه شوله څکه دومره خُلې چې راپسې شولې

اوس هم ستا د مينې افسانه زما په شونډو ده
څو دې افسانې مې په نړګوتي کښې ورستې شولې

ستړګې دخاطر که ستا په ستړګو تېر وتلې دي
ګورمه دا بدې که زما په حقله ښې شولې

تابه کتو غل چېرته خاطره دورک شوې زړه
نه ګورې چې تاته داشنا ستړګې بس غلې شولې



چې اشارې کړې ايسار ېږم ولې
چې پښېمان يې تيار ېږم ولې

په يو ساعت کښې مې بيا بيا ژړوې
چې اوس ژړېږم قرار ېږم ولې

درېغه چې مړ دې دستم نه وې زړه
چې نه مړ کېږم ازار ېږم ولې

نور به دې څه وکړي بانه په خاطر
ټول دې پرهار کړمه وېرېږم ولې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اوښکې نه کمېږي څو را مات شي
تا چې خندا وکړه نو را زيات شي

څوځلې د اوښکو سره درغلم
دا څنګه جرګې او ننواتې شي

څو به کوي ستا ستړې نماستړې
لرې دې وي خبر دے هو چې زياتي شي

تا چې د خاطر سره څه کړي دي
خبر دے اشنا دا يې درته پاتې شي



ته به په زړه کښې ماله څه راکوې
که راکوې ماله به زړه راکړې

منع به نه شم ستا له دره څنې
په دې دې نه يم که څه نه راکوې
څه لوې اختر دې د ښوانه تېر کړلو
ته به لا سونه ماته ښه راکوې
داسې چل وکړه چې نو پس ور دوده بېږم
سبا به ښکليه يوه لمبه راکړه
دا خوشحالي به ماته څوک راکوي
چې ټول غمونه راله ته راکوې
چې پرون د او ګلونه دي کړم نو ماله به شو
اوس خو به هر څه په کاله راکوې

ضد له خاطره سره مه کوه ته
که يې اوان راله په خوله راکوې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ته ما ستا بلې یو پهٔ سله نهٔ یې
دا تهٔ زما پهٔ وینا څله نهٔ یې

کهٔ څوک خپل ځان در ته ذرې ذرې کا
خپله کوې تهٔ د چا خپله نهٔ یې

دا تهٔ څه چرته یې چې نهٔ یې نهٔ یې
هر وخت زما سره تهٔ څله نهٔ یې

خاطر به هم پهٔ تا اعتبار کوې لا
تهٔ خو هم هغه یې څهٔ بله نهٔ یې

هر څوک چې د زړهٔ قرار غواړي راشي
پرهېزم ولې نه چې قتلولو له راشي

بلبل کړې د ګُل وصف کهٔ بهار وي کهٔ خزان
بورا تهٔ خو یې بس یو بنګلولو له راشي

غمونه د اشنا زهٔ اوس پهٔ هېڅ نهٔ هېروم
اے غمه د دنیا کهٔ هېرولو له راشي

ارمانه د اشنا شه د اشنا سره مېشته
چې زړهٔ ته د خاطر ازارولو له راشي

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



# سندرې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

○

داسې راته ګورې لکه ته چې راته ګورې
نېغ مې لهٔ زړګی وُځي کاږهٔ چې راته ګورې

کله چې د زلفو ورېځ لرې کړې لهٔ مخه
شی دې پلوشې ښکلې بانهٔ چې راته ګورې

هغه وخت لږ وېږوک ته چې مخ راځنې پټ کړې
داسې معلومېږی لکه ښهٔ چې راته ګورې

تهٔ زما د زړهٔ نه د خپل حُسن تپوس وکړه
زهٔ به درته ووایمه څهٔ چې راته ګورې

نن خو مې خاطر وکړه چې مهٔ راته راګوره
زهٔ درته کتے نهٔ شمه تهٔ چې راته ګورې

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اوس را نه هیڅ نهٔ شی خطا ده
لهٔ هرڅهٔ هرڅهٔ وو تمه
ګرا نه اشنا دا ېي سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

نهٔ در نه خفګه هېرېدمه    خپلو وعدو نه وشرمېږه
تا چې خندل نهٔ ژړېدمه    لهٔ هغو شپو نه وشرمېږه

هېره زما تا له دنیا ده
شام و سحر دې یادومه
ګرانه اشنا دا ېي سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

غرېږهٔ غر نهٔ وځې صحه    چې وی ژوندی لغریه راشي
درته پهٔ زړهٔ کښې به یې سانه    پرېږده چې مړ به شي پهٔ جناشي

زما پهٔ سترګو کښې حیا ده
نهٔ یې پهٔ څهٔ دروا ړومه
ګرانه اشنا دا ېي سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه



تل به پهٔ هر چا دا سې کېږي    پهٔ داسې خلقو چې اعتبار کا
لهٔ خپله ځانه چې خبرېږي ئ    لهٔ ګڼو سترګو به یې ګذار کا

د ښکلو مینه بې وفا ده
نهٔ به یې څهٔ درته ستایمه
ګرانه اشنا دا ېي سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

خاطر خرمهٔ وے درکتلی    اوس یې ژوندون اختیار دے
هغه چې تا درته خندلی    نن یې د نورو یې خندا تور دے

زما د زړهٔ خوښه ژړا ده
څکه یې نهٔ قرار ومه
ګرانه اشنا دا ېي سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

ځ دا د حکایه د (الف) په ځای (د) لیکل شوے دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې ې سترګې دیدن د اشنا نهٔ کا
زړهٔ ې غم د نورې دُنیا نهٔ کا

زهٔ به څهٔ کړم ګریبان چې یار راکړې ګل
پهٔ زخمونو ملهم به کېږدی د ګوګل
هسې هسې ې یار خندا نهٔ کا
زړهٔ ې غم د نورې دنیا نهٔ کا

ایله زُلفې یې اوس غُنچې ته جوړې شوې
دواړه شونډې یې خند بدو ته جوړې شوې
مل به څنګه زما سودا نهٔ کا
زړهٔ ې غم د نورې دنیا نهٔ کا

د ستا مخ ته زما نظر ورسېدو
هغه اور ې سم تل تر ځیګر ورسېدهٔ
بې لهٔ سوزه خو هیڅوک ژړا نهٔ کا
زړهٔ ې غم د نورې دُنیا نهٔ کا

اے خاطره ګیلې د خپل یاره مهٔ کړه
تهٔ طمع د دل اٰرامه مهٔ کړه
اے شباب خاطر دهیچا نهٔ کا
زړهٔ ې غم د نورې دُنیا نهٔ کا

شوې د زړهٔ سترګې سپینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

لبانو ستا زهٔ د بنامار پهٔ شان خوړلے یمه
زهٔ دې د سترګو پهٔ بڼو باندې ویشتلے یمه
ځې ې لهٔ ځلې نه تورې وینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

پهٔ دې هجران کښې به تر څو پورې کړېږمه زهٔ
شام او سحر لکه ماشوم غوندې ژړېږمه زهٔ
اوښکې ې ځې پهٔ مخ رنګینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

چې تهٔ کوې پهٔ ما ظلمونه راته پېغور دے صنمه
خاطر کوی در ته سوالونه پهٔ زړهٔ یې نور دے صنمه
وهم رباب څکه د مینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نهٔ ومه خبره زهٔ، تا چې زړهٔ با بُللے دے
تا ووې ربېار ته پس لهٔ دې به څوراڅې
خبر دے کهٔ تش تور ې دې پرون زړهٔ کے شړلے دۀ
خیال ې وهٔ سکار ته پس لهٔ دې به څوراڅې
وښایه څیګر راته اوس د زړهٔ کی سر راته
وایه د ښهوغشو پهٔ کوم کوم ځاې ویشتلے دے
لاس کښې آئینه ې وه کړې چې کینه ې وه
ماکتل رخسار ته پس لهٔ دې به څو راڅې
څنګه مړې در شمه پهٔ حال دې چې خبر شمه
لاس کښې دې رقیب راته ډک تور پک نیولے دے
یو ځلې در غلے وم ډېر دې زغلولے وم
غلے وم دیدار ته پس لهٔ دې به څو راڅې
ما چې کوم ستم کړے اوس ې پهٔ تاکم کړے
دا د خوانئ ولړ پهٔ ما ښن سبا را غلے دے
شو خاطر غلام دستا کړې به تل سلام دستا
پرې ې بنده در بار ته پس لهٔ دې به څو راڅې

ښن څو را ته مهٔ وایه چې نا ترسبا
سو دې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا ترسبا
وو وایه اشنا راته، تهٔ زما تعبیر نهٔ یې
وی چې تل پهٔ خیال کښې ې تهٔ صفه تصویر نهٔ یې
بله را ته ښکاری دا دُنیا ترسبا
سو دې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا ترسبا
راکړه ساقی داسې مئ چې شی زما او ستا نشه
هم پرې د چوپتیا نشه هم پرې د دنیا نشه
جام د لبو راکړه پهٔ بیا بیا ترسبا
سو دې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا ترسبا
ښن ځو دې را جمع شهٔ پهٔ مشېر کښې کېنونه دی
ستر ګو پیمانو کښې دې رنګ پهٔ رنګ ستونه دی
ګُلې د خاطر شه پهٔ ربنتیا ترسبا
سو دې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا ترسبا

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



طلب کړم صنم چم پهٔ چم
لوند ئې ګریوان دے څاڅي ئې نم

مينه وفا دې نشته
پهٔ چا پرواه دې نشته
وېره لهٔ چا دې نشته

کوه ستم طلب کړم صنم

رنګ ئې تک تور صنمه
سوے پهٔ اور صنمه
کومه شور صنمه

وکړه کرم طلب کړم صنم

مینه بهار دے دستا
چمن ګلزار دے دستا
خاطر ماليار دے دستا

دګل پهٔ چم طلب کړم صنم

ـــه متن او د دیوان کښې مصرع داسې ده به چم په چم طلب کړم صنم



چې ستړګې نهٔ وباسي، زما او ستانه
راځه چې درومو دواړه، لهٔ دې دنيانه

زما او ستا دلته څهٔ دی، خوږه مينه
راځو هر چرته کېږی، چې راسې وينه
ځان له به جوړ کړو بوستان، پهٔ بيابانه
راځه چې درومو دواړه، لهٔ دې دنيانه

خو به پهٔ وېره سره، ديدن پهٔ غلا کړو
پهٔ انتظار کښې سره، بېګا سبا کړو
تهٔ شه لهٔ زلفو تېره، نهٔ لهٔ ګريوانه
راځه چې درومو دواړه، لهٔ دې دنيانه

داړک دمينې زړونه، به دواړه يوسو
څه چې څنګل ته لاړ شو، هلته به اوسو
يو دې چار ګل پهٔ پوښ، ه بل دې پېزوانه
راځه چې درومو دواړه، لهٔ دې دنيانه

دا ئې پهٔ خوا خاطر کښې، نهٔ وو صنمه
چې زهٔ خاطر به شمه، پهٔ خاطر جمعه
څکه چې ستا لهٔ غمه، دېر يم پرېشانه
راځه چې درومو دواړه، لهٔ دې دنيانه

ـــه متن او دیوان کښې (د) [illegible]

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

د سین نه کال ته د پېر غمونه
لهٔ داسې ژوند نه مرګے ښهٔ دے رادې ښينه
الله دې خبر کړي
ستا د ممانو فریادونه
هېر به مې نهٔ شي
لکه د زانو قطارونه
هېر به مې نهٔ شي
پاس پهٔ اسمان کښې جهانونو سرځينه
الله دې خبر کړي
د پښتنو فقیره ژونده
خنګه به تېر شي
تېر خو به شي پهٔ لوږه تنده
خنګه به تېر شي
پهٔ مصیبت به دې څوک سر ته رسوينه
الله دې خبر کړي

نوم د پښتو راځني هېر شي
څوک مې یادېږي
غم د غفوري راسره ډېر شي
څوک مې یادېږي
څوک چې د قام او د اولس خدمت کوينه
الله دې خبر کړي
خاطره صفه خلق ستا به
پهٔ خپل کتاب کښې
تل پهٔ بار بار دغسې وايه
پهٔ خپل کتاب کښې
حاجي سرونه پهٔ وطن ورکړي دينه
الله دې خبر کړي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شوګیرې توتي په سبا سبا کښې تېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
ستا د بنا پسته سترګو د یاره ګوره مانه بنګلیه یاره
څو مره لبې مې په نړګوتې باندې تېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
د خداې د پاره بس ګړاشه که مرور یې را څه خلاشه
ستا د را تلو په انتظار مې سترګې سترې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
دا ته چې لاړې د بل چا شوې زما د زړه خنې جدا شوې
زما د استړې شګیرې دې توتې هېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
خاطر زه ځان ته حوانه یمه که لېونې د ګورې بس روانه یمه
د پیغلتوب ملګرې توتې دا نه ګېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو

د قافیه درسته نه ده



واوره صنم زړه مې نه شي له تا نه
ویلې نه شم زه څه له حیا نه

دغه ستا د مینې درد و نه ښه دې په ما
زړه مې د ستا د یاره وائي چې وې دې په ما
واوره صنم

په کومه لاره بنګلیه چې قدمونه کېږدې
زه به د مېنې په زړه باندې داغونه کېږدې
واوره صنم

زړه مې له خپله کوره تښتي چې راشې صنم
خاطر به بېګران دے په ما چې په خنداشې صنم
واوره صنم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

په تش دیدن باندې مې نه رو مشغولېږه
څم مه خفه کېږه بله ورځ به راشم

له هر چا پټه پټه ستا یارانه به کړمه
تاله چې در شمه نه رخه بهانه به کړمه
په انتظار کښې مې له ځانه سره ژړېږه
څم مه خفه کېږه بله ورځ به راشم

کړم دا وعده درسره چې تا به هېر نه کړمه
یو ساعت بې له تا به په نوره ځه تېر نه کړمه
په دې سودا مې قدر کېږه راوېښېږه
څم مه خفه کېږه بله ورځ به راشم

نښه د ستا او زما ، ماه و تابان شو سره
بل مې کاروان د ستورو په کهکشان شو سره
د سبائي د خیال خوبونو کښې ژنګېږه
څم مه خفه کېږه بله ورځ به راشم

ځان ته دا ټوله دُنیا خاطره ما وکړنه
په کښې مې مخ او زُلفې بېګا سبا وګڼه
د زړۀ په مینه مې په سترګو کښې اوسېږه
څم مه خفه کېږه بله ورځ به راشم

له که په دیوان او منزل له نه کېږي (د ) دے



ته چې په مرګ زما رضا يې
ما ته قبوله دلربا يې

ستا رضا ده چې دا سې ژړېږم
په عالم کښې دا سې ګرځېږم
په محبت کې نا رضا يې
ما ته قبوله دلربا يې

عاشقي وه پېدا له اوره
لږ زما سوې زړۀ ته وګوره
جوړ په معنیٰ قیمت بها يې
ما ته قبوله دلربا يې

خاطر ته ګوره دا سې حېران دے
په محبت کښې ستا بندیوان دے
يې کبرجنه بې ریا يې
ما ته قبوله دلربا يې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوبنه دې شوه ولې زما داشنا مینه
اے زړه غمګینه

اے زړهٔ زړې شه
خاورې ایرې شه
څې د سترګو د زړګ وینه
اے زړهٔ غمګینه

راشه کهٔ وینې
د زړګی وینې
د یار پهٔ غم کښې چې دوی راځینه
اے زړهٔ غمګینه

خاطره دا شپې
تا نه جدا شپې
جوړه د وصال شپې د یارکه دینه
اے زړهٔ غمګینه

اوس به وطن د سرو ګلونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
څهٔ به د ښکلو نګهتونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
بلبله ستا د تماشو ورځې دی
راشه هم دا دې د نغمو ورځې دی
نه چې لا هغه د ازغو ورځې دی
ځان کړه پهٔ خود اوس د ګلو ورځې دی
راشه چې ژوند دې د کېفونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
اوس به تږول بوټي سره ځان وښائي
څوک به کلی، څوک به ګلان وښائي
لاله به هم خپرې ګرېوان وښائي
هم به بلبل شور و فغان وښائي
اوس به ښاخونه د رنګونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



جونه به ولونه د وربل جوړوی
په کښې ښایونه به د ګل جوړوی
سره سره غنچونه به منګل جوړوی
په آئینو کښې به کاګل جوړوی

دغه جهان به لهٔ نازونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

ښکلی ښلی به په شملو کښې بندی ګل
اورس خو به جونه په کمڅو کښې بندی ګل
ډېر ارمانونه به په زړو کښې بندی ګل
څوک به د زړهٔ په پرهرو کښې بندی ګل

داسې به زړونه په داغونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

زهٔ کوم ښایسته د چا خندا نهٔ وینم
چې ې لیده هغه رڼا نهٔ وینم
ګل د رخسار چې د اشنا نهٔ وینم
زهٔ نور ګلونه د دُنیا نهٔ وینم

څوکهٔ جهان لهٔ دیدنونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

د ارمانونو لوے جهان ړنګوی
زړهٔ په ګوګل کښې ې جانان ړنګوی
د مینې ګل را نه هجران ړنګوی
نهٔ کېږی خاطر دغه بوستان ړنګوی

د مخ کتاب دې د رانوړنو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

څهٔ به د ښکلو نګهتونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زړګی مې غواړی شمع رویه سوزېدل
راشه یو ځل

ارمان مې دا دے که پوره شی
د رنځ دارو مې د اشنا سره لیدل
راشه یو ځل

څو به شوګیر کړم راته وایه
واړه خوبونه راځنې وتښتېدل
راشه یو ځل

که دیدن کړې تلوار راوکړه
همزولې راغلې خوروی مې تور وربل
راشه یو ځل

عاشقان ګوره حال یې څه شو
لکه پتنګ چې په لمبو وسوزېدل
راشه یو ځل

سوال د خاطر منظور کړه یاره
جفا دې پرېږده د وفا وکړه کتل
راشه یو ځل



ښ دې وربل په کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه نه اور راته بل دے

د ډوند کاروان مې دے د غم خپه ګر روانېږي
واوره فریاد مې د جرس په اوازونو کښې
تلے دې پل په کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه نه اور راته بل دے

ترڅو د هجر دا اوږدې شپې او تیارې به وینم
سبا د وصل به وی لرې که نژدې به وینم
د ستا منزل په کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه نه اور راته بل دے

خاطره ښ دې کلالې سم راته کتلی وے
واړه بناپسته به دې له نه ځنې وتلی وے
د کتو چل په کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه نه اور راته بل دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستړې نيولې دی ماستا په رخسار کښې
او به او به شول توری څې په خمبار کښې
ما چې ليدلے ، ستا پښو کښې پل دے
غم د وحشت ، وحشت راسره مل دے
اوس مشغولا کړم په دغه لار کښې
او به او به شول توری څې په خمبار کښې
نه د رسيږی نه د رته غږ شی
نه رانه خمب شی نه رانه نښ شی
داغه ژوندون دے په انتظار کښې
او به او به شول توری ، څې په خمبار کښې
يار چې له بنګلو سره روان دے
دې تماشې ته خاطر حيران دے
تکه سپوږمۍ وی ، ستوری قطار کښې
او به او به شول توری څې په خمبار کښې



زما په طمع به کړې تېرمسې وختونه
زه دې ياره نه يم      دومره وزګاره نه يم
چې درته کوم
ماته را ياد نه دی څوک زه په خپله کښې يمه
په زړګی غم نه لرم په خوشحالۍ کښې يمه
زه لېونے يم چې کوم دومره فکرونه
زه دې ياره نه يم      دومره وزګاره نه يم
چې درته کوم
لېونۍ نه يمه چې د خپل سودا کومه
په تا دې اور بليږی زه څه پروا کومه ـه
چې بيا هم د ې راته نه کا پېغورونه
زه دې ياره نه يم      دومره وزګاره نه يم
چې درته کومم

ـه متن لږ ده او دغه ډول کښې د بل مصرع په داسې دی :
لېونۍ نه يم چې د اسې دا کېم — په تا دې اور بليږی زه څه پروا کېم

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

دومره وزګاره نه یم چې خپل ځان ودینم
چې په ائین کښې ګورم آئین پرېشان ودینم
جانانه ډېر درپېښ کړمه ارمانونه
زه دې یاره نه یم دومره وزګاره نه یم
چې درته ګورم

زه چې ګورم له څمه مښین سوزېنې په ما
لکه د اور په شان سېنګار ځلېږي زما
خاطره مه راځه بلېږي سره اوردونه
زه دې یاره نه یم دومره وزګاره نه یم
چې درته ګورم

تورې سترګې دې اشارې کا — سرې شونډې لېبې کا
زړه کیږه راته وایه — چې زه کوم طرف ته لاړ شم

کله بانړه راته اوږغي کا — پېښې دګلو انګی کا
چې مسکی شي بیا سترګې مرې کا — سرې شونډې لېبې کا
زړه کیږه راته وایه — چې زه کوم طرف ته لاړ شم

بیا چې ارمان د بس نه وي — کړه چې څه دې ن په زړه وي
چې مې خلق ټول تماشې کا — سرې شونډې لېبې کا
زړه کیږه راته وایه — چې زه کوم طرف ته لاړ شم

د انتظار په تورو شپو کښې — دا دې خاطره په تیارو کښې
خپلې او بنګې دې ځان ته ډېرې کا — سرې شونډې لېبې کا
زړه کیږه راته وایه — چې زه کوم طرف ته لاړ شم

له متن لرنه او دیوان کښې (نن) نشته
له متن لرنه کښې دا بند نشته

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې ترسبا به يې ژړا په تا پسې کړه
را يادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه ياره

دلبره ستا زړه ته معلوم يې
هسې خو نه چې ته ماشوم يې
ګله نهير په ما مظلوم يې
چې نه پوهيږې له هغو سره وعدې کړه
را يادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه ياره

چې ستا د مخ په تماشا وم
دغه وصال وه که جدا وم
نه يم خبر په څه سودا وم
چې تماشا مې ستا د مخ د تماشې کړه
را يادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه ياره

چې په غمونو کې دې ګېر کړم
اوس دې دلبره ځله هېر کړم
که دې يو ځل په ديدن سېر کړم



ګنې له غمه به دې سر شم بيا مړې کړه
را يادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه ياره

چې د اغيارو زما يار شي
بس اوس يې قتل ته تيار شوې
اشنا زما ځنې وېزار شوې
پرواې نشته خو په خپله يې ذبې کړه
را يادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه ياره

څکه قبول دغه بهتون کړم
څه بې له تا په دې ژوندون کړم
دلبره مينې دې مجنون کړم
جانانه اوس را پورې ټوقې مسخرې کړه
را يادې دغه شپې کړه
زما نا ترسه ياره

دستا چې نه يمه د چا يم
راغلے دايم په خندا يم
مړ وړ نه يمه پخلا يم
خاطره بيا که مړ وړ شوم نو ګيلې کړه
را يادې هغه شپې کړه زما نا ترسه ياره

~

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

تېر به د ستا د حسن وار شي يار زما
اخر خزان به دي بهار شي يار زما

چې نهٔ را درومې اشنا نو وعدې څله کوې
هغه پرون دې څهٔ وې ن چې بيا يې له کوې
زما يقين ستا په اقرار شي يار زما
اخر خزان به دي بهار شي يار زما

سترګې دې بې له تا نه د چا په لور نهٔ ګوري
د ستا له مخه څښي مخ نه نور نهٔ ګوري
مړې به کله په ديدار شي يار زما
اخر خزان به دي بهار شي يار زما

زهٔ د بل چا د مينې اشنا څهٔ طمعه نهٔ کړم
نهٔ به له تا نه سره ستا مينه سمه نهٔ کړم
په ما خاطر دې که اعتبار شي يار زما
اخر خزان به دي بهار شي يار زما



چې نهٔ را درومې يار ته، منع دې کړم يا د زما
نهٔ شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

ان د يو ساعت مهمان د لې
وا وده زما يو څو ګيلې
تېر به شي ستا شباب، سر دې نهٔ کړو مراد زما
نهٔ شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

چا ته بنکاره کړم خپل څيګر
نهٔ کړې پروا دې پرې دلبر
نور دې دي څوک چې يې وا وري دغه فرياد زما
نهٔ شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

کهٔ بنهٔ دې شي په سر زما
وي دې پېشکش دلبر زما
وائي خاطر شه نار له تا، نشته باقي جا ئېداد زما
نهٔ شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

زهٔ جهان ځکه ګرځم چې نمر مخیه یاره تا ووینم
ښکلې دنیا ووینم     ښکلې دنیا ووینم

ستا د کاکل په تورو شپو پورې لاشپې شوې دی
ستا د سرو شونډو انګو پورې غنچې شوې دی
دی تماشه مې د ژړا چې د ې خندا ووینم
ښکلې دنیا ووینم     ښکلې دنیا ووینم

د ستا په مینه کښې د خلقو خندے خوښ یم
خود خپل عقل نه وذکار شم لیونے خوښ یم
راسره غم د لیونو شی چې صحرا ووینم
ښکلې دنیا ووینم     ښکلې دنیا ووینم

ګله چې ما خاطر ته یاد شې ټول جهان ګل شی
له ډېره هجره سر یو ګل مې د چشمان ګل شی
خدای خبر بیا چې زهٔ به ستورے د سبا ووینم
ښکلې دنیا ووینم     ښکلې دنیا ووینم



د قام ځلمو ستړګې مو پورته کړې خپل ځان وګورئ
چرته کښې ورسېدهٔ ، وګورئ جهان وګورئ

د قام ځلمو زموږ همدغه د ختو ورځې دی
دا مو د ژوند د بنهٔ کېدو د خوشحالو ورځې دی

د نمر په شان خپل طاقت په ټول جهان خور کړئ
په خپل همت هر چرته نوم د پاکستان خور کړئ

شاته نور مهٔ ګورئ په وړاندې خپل قدم کېږدئ
په وړاندې لاړو باندې مهٔ څئ قدم سم کېږدئ

لهٔ مخې لرې کړئ ازغي ځان ته ګلونه کېږدئ
شي چې اغیار در ته حېران هلته کښې پلونه کېږدئ

موږ له چې مخې له راغلی وار خطا تللی دی
ځلمو زموږ ده ځنې ډېر ځلي په شا تللی دی

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تا سو هم واورئ چې پېغور ته نظر تېر نهٔ شي
د پاکستان ځلمو مېدان کښې مو سر تیټ نهٔ شي

د مشرانو تل ځلمو نصیحتونه نهٔ وي
دا مو دے وخت د ترقۍ تل دا وختونه نهٔ وي

ملا مو د قام خدمت ته وتړئ چې سیال شئ پکښې
دا تنګې لنډې کړئ اوارې چې خوشحال شئ پکښې

چې ټن یې ونهٔ کړئ ځلمو بیا به یې کله وکړئ
د خپل وطن خدمت ته پورته شئ پهٔ خپله یې وکړئ

یو بل ته مهٔ ګورئ، لهٔ ځان هر یو ماليار جوړ کړئ
د پاکستان دهر یو کوټ ځنې ګلزار جوړ کړئ



د دښمن پهٔ خونه تندر د اسمان جوړ شي
چې پاکستان جوړ شي
شان و شوکت دے زمونږ
جاه و حشمت دے زمونږ
د قربانۍ پهٔ ډېرو وینو د اسمان جوړ شي
چې پاکستان جوړ شي
دا دېکې مهٔ کوه
هسې دېکې مهٔ کوه
زړهٔ د فولادو نه د هر یو مسلمان جوړ شي
چې پاکستان جوړ شي
غم د بلا نهٔ کوو
د چا پروا نهٔ کوو
مقابلې ته د دښمن زمونږ یو ځان جوړ شي
چې پاکستان جوړ شي
مونږ د خپل کور کړو فکر
هم د خپل ورور کړو فکر
فکر مو دا دے چې کشمیر کښې هندوستان جوړ شي
چې پاکستان جوړ شي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ښاغلي په شان وو اول
حیران پریشان وو اول
اول وو ښاغلے اوس دریاب ترې بې پایان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
هر امتحان ته ولاړ!
دغر په شانته ولاړ
وائي خاطر چې کلک په شان د سندان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

☆

ستا د هلال ستوري مدام اختر دے زمونږ
د ستا مثال ستورے ښکاري نظر دے زمونږ
د ستا د اقبال ستورے سر او بصر دے زمونږ

تل ځلیږي په تا چې پې روښان وطنه
د پاکستان وطنه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**